# خیالونه چنارونه

سمندر یوسفزے

# حقونه محفوظ دي


- د كتاب نوم ـــــ خيالونه چنارونه
- ليكوال ـــــ سمندر يوسفزے

رابطه نمبر ۰۳۴۵۹۴۰۹۷۵۲

Samandar.yousafzai@yahoo.com

- كمپوزنګ ـــــ ارشاد خان پښتو اکېډيمي پېښور
- سرپاڼه ـــــ كمال خان
- د چاپ كال ـــــ اكتوبر ۲۰۱۳ ء
- شمېر ـــــ ۱۰۰۰
- بيعه ـــــ يو نيم سل ۱۵۰ روپۍ
- چاپ ځائے ـــــ عامر پرنټنګ ايجنسي پېښور

د ملاوېدو دركونه

- يونيورسټي بک ايجنسي خېبربازار پېښور ښار
- پښتو اكېډيمي بُک شاپ پېښور پوهنتون
- يونيورسټي بک ايجنسي ملاکنډ پوهنتون
- حماد بک سيلرز بټ خېله

# تړون

د هاغه

واړه ښاغلیو

پهٔ نوم څوک چې بې رویه بې ریا ددې خاورې او

اولس د بقا پهٔ جنګ کښې مري.

سمندر

## سمندر

# د تخیل غواص

شعر د شعور نه دے او شعور د لاشعور د سمندر سطح یا ئې مخ دے۔ ددې سمندر په باطن کښې کومې ملغلرې کوم لعلونه دي هغه د رنګ کۀ د رڼا کۀ د ښائست دي۔ ددې ادراک یوازې شاعر کولے شي۔ یقیني ده چې شاعر به د مینې لامبوزن وي۔ څوک چې د عشق او محبت جذبه نۀ لري هغه ددې سمندر غواصي نشي کولے۔ څوک به پۀ غاړه غاړه ګرځي شاعري به کوي۔ د سمندر تل ته د ورتلو حوصله نۀ لري او څوک چې د مینې پۀ دې سمندر د ځان د لاهو کولو حوصله لري نو د شعر پۀ هنر به پوهېږي۔

بل هغه سمندر دے چې پۀ اور کښې روزګار کوي او حمزه صیب شاید هغه سمندر ته پۀ اشاره ایهام کښې وئیلي وو۔

کلــه کلــه د خپــل شــعر پــهٔ لمبــو ســوزم
دا پـــهٔ دې چـــې مـــې اشـــنا د ے ســـمندر

او سـمندر کـهٔ د اور او کـهٔ د اوبـو د ے خـو سـمندر د ے پـهٔ دواړه لحاظه سم د ے د اور د خاصیت نخښـې هـم لـري او د اوبـو د سمندر ژوروالے او پراختیا هم لري کهٔ د رنګ د ے کهٔ د خیال او کـهٔ د فکر خو سمندر د ے۔

شـاعري ماشومان هم کـوي ځوانـان او مشران هم۔د هـر چا خپله خپله مرتبه ده ۔دا د قـدرت لـهٔ اړخه بنیـادم تـه ورکـړے شـو ے سوغات د ے او هر څوک د خپـل شعر سـره مینـه هـم لـري ځکـه چـې دخیـال د سـمندر لـهٔ تـل نـه ئـې راوسـتے وي او اصـل شـاعران لکـه د احمـد دیـن طالـب جوتـه لعلونـه نـهٔ ړدي ۔د اصیلو ملغلرو پـهٔ قطـار کښې.... او دا اوړد تمهیـد مـې پـهٔ دې وتـړهٔ چـې نـن سبا لکـه چـې ځینې شاعران د بازار پـهٔ نرخ شعرونه لیکي ۔کـهٔ سـاحر لـدهیانوي د یو خاص مقصد د ښکاره کولو دپاره پهٔ علامت کښې وئیل چې :-

**میں نے جو گیت تیرے پیار کے خاطر لکھے**
**آج ان گیتوں کو بازار میں لے آیا ہوں**

ولې پښتو کښې د شـهرت اوړې د جوتـه لعلونـو کاروبـار کـوي چـې هم پښتو تـه او پښـتنو تـه د ژبان سبب ګرځي ۔نو پهٔ داسې کښې چې

څوک د سمندر په شان بې نیازه ، د نوم شهرت نه بې پروا د خپل خاطر د تسکین د پاره شعرونه لیکي نو دا سوچه ملغلرې د قدرولو دي.

د زمکې په مخ اووۀ سمندرونه دي .د پښتو په زمکه یو ملک الشعراء سمندر خان سمندر دے او رښتیا دي چې ژور سمندر دے او بل سمندر چې زما ډیر خوږ کشر دے او شعرونه ئې زما د هغه د طالب علمۍ لۀ ورځو خوښ دي یو خاموش او په ظاهره په قرار قرار ګرځېدونکے به ما لیدۀ .کۀ په کلاس روم کښې به وو او کۀ بهر براندہ کښې نو به زما خیال وو چې :-

پټ وي طوفانونه د شاعر په خاموشۍ کښې

(حمزه شینواري)

ما به وې چې کۀ زما نۀ خفه دے ولې سمندر د احترام په معنٰی پوئې وو او په دغه ورځو کښې هغه پخپله هم دا خبره مشاهده کوله چې بعضې شاګردان د استاذانو سره څۀ رویه لري او بیا چې شاګرد د استاذ سره د مقابلې او د رقابت سلوک شروع کړي نو هم داسې ده لکه چې څوک د جومات د ډیوۀ تېل په زلفو مږي او سمندر چې د رڼا په قدر پوهېږي نو قدر واحد دے .ګني هم هغه خبره ده چې :

تــا زمــا خبــرې زده كــړې نــو اوس لــړې
كـــوې مـــا وتـــه خبـــرې جگـــې جگـــې

د رنـا پــۀ قــدر پــوئې نــۀ ئــې نادانــه
د جومــات د ډيــوۀ تېــل پــۀ زلفــو كــړې

د خـاطر دا غبـار مـې پـۀ دې وېسـتو چـې زمـونږ ځينـې كشـران د جومات د ډيوۀ پۀ تېلو غوړې زلفې گرځي او هم هغه جومات پۀ كاڼو ولي.

نو پۀ داسې كښې چې د سمندر يوسفزي پۀ شان رښتينے شاعر پېدا شي نو گيلې وركې شي او دا طمع تازه شي چې د پښتو مستقبل شته ، روښان دے دا د پښتونخوا فضا به د سمندر پۀ شان د شاعرانو پۀ نغمو معطره وي .د پښتو پۀ شعر كښې به اصليت ورځ تر ورځ زياتېږي .د مينې د رومان او ارمان سوچه ملغلرې به پۀ اهنگونو او سندرو كښې پېرلے شي او د جوته لعلونو كاروباريان پۀ خپله د كونجكو پۀ شان د ساحلونو پۀ شگو كښې پټ شي.

د سمندر د سوچه شاعرۍ نه ما د شعرونو انتخاب پۀ دې اونۀ كړو چې دا طريقه اوس ډېره عامه شوې ده.شعر را اخله او بيا ئې تشريح اوكړه.بايد دا تكرار اوس ختم شي او بل ما د سمندر پۀ

شاعرۍ کښې داسې کمزورے شعر اونۀ لیدو چې د فن او هنر خامي لري ۔خیال عامیانه کېدے شي ولې سمندر د خبرې پۀ هنر پوئې شاعر دے ۔ وړې خبرې ته هم د شعر ښکلے پېرهن سازولے شي او کوم رومان چې د سمندرد سینې پۀ سمندر کښې پۀ غور ځنګونو دے هغه د ملاکنډ د غونډیو د هواګانو پۀ څپر تازه احساس پېدا کوي ۔نن سبا د ملاکنډ یو منفرد ادبي مکتب ساز شوے ښکاري او دغه خوشبوئي او تازګي د سمندر پۀ شاعرۍ کښې ښۀ ښکاره محسوسېږي او زۀ دا پۀ اعتماد وئیلے شم چې کۀ چرې د ملاکنډ د ادب مکتب پۀ وجود کښې راتلو نو سمندر به ئې د صابر ، زیار او سائل پۀ رنګ اصل نمائنده شاعر وي او دے هم ۔ولې دا د ادبي تنقید سوچه روایت ته انتظار دے ۔کۀ مخلص ، دیانتدار او سوچه تنقیدي شعور عام شو نو یقیني ده چې د ملاکنډ ادبي مکتب به پوره پۀ وجود کښې راشي او مونږ به د سمندر پۀ شان د شاعرانو د مقام به اندازه ټاکلے شو ځکه چې سمندر د وخت د عصر نمائندګي هم کړې ده ۔د نن د لوګي لوګي ماحول د تصویر کرښې ئې هم راکښلي دي ۔طبقاتي احساس ئې هم ژور دے د ترقي پسندۍ اثرات ئې هم ځائے پۀ ځائے ښکاري ۔د مزاحمت شعور ئې هم ځلاند دے او دا ددې دور تقاضې دي چې شعر ئې د تاریخ سترګو ته وړاندې کوي۔پۀ اخر کښې سمندر ته هم د هغه دوه شعرونه ډالۍ

-:

د بـــل پـــۀ ذهـــن د اثـــر پـــۀ هنـــر پوهـــه يمـــه
لکــه نکريــزه پــۀ لاســونو کښــې مــې شــپه کــړې ده

دا لــوړې ونــې راتــه اوس د بنګــو بــوټي ښــکاري
پــۀ دنګــو چنــارونو کښــې مــې شــپه کــړې ده

ډاکټر راج ولي شاه خټک
حيات اباد ، پېښور

# بو قلمون

د سمندر شاعري لا ایله ایله پښغلوکې ده ـ خو د جمال دومره پسرلي ئې پۀ ځان راخوارۀ کړي دي چې هر باذوقه نظر باز ئې ځان پله راکش کړے دے او خدا ایزده چې کله دغه شاعري پښغلتوب ته ورسي او جوبن ئې د بوډۍ د تال پۀ رنګونو وځنګوي نو نۀ پوهېږم چې دا به پۀ دغه سکښې سمندر د اولس د مئینتوب څومره اور لګوي او څومره خلقې او حلقې به ددۀ د پرستارۍ پۀ حلقه کښې را داخلوي ـ ځکه چې د هرې ادب پارې او فنپارې د ارزښت سمه او کره پرېکړه وخت کوي ـ

د سمندر دا ,, خیالونه چنارونه ،، د هغه د تېرو څو کلونو شاعري ده ـ چې زیاتره پۀ غزلونو اړتیا لري ـ دا غزلونه چې د لږ ډېر بدلون سره د هندي سبک پۀ ځانګړنو سینګار شوي دي دا راښائي چې پۀ یو ویشتمه صدۍ پېړۍ کښې د هندي سبک د احیاء دپاره د قدرتونو څښتن د ملاکنډ د وچو تړو پۀ سر درو کښې سمندر راپېدا کړو او پۀ ماضي کښې چې د هندي سبک د نازکخیالۍ کومه رنګینه دنیا اباده شوې وه سمندر نۀ یوازې د هغې بریدونه

معلوم کړل بلکې د نوې سره ئې پکښې د بدلون سره سره پراخې هم راويسته.او دغه ځانګړنې ئې د پښتو غزل جولۍ ته د نوؤ رنګونو سره يو ځل بيا راتـولې کـړې او مـونږ پـۀ سوؤنو کالـه پـس هغـه موشـګافي ، نـازک خيـالي ، معنـوي بـاريکي ، ظـاهري ښـکلا ، د اختصار خوارۀ ، معامله بندي ، وقوعـه بندي ، مضمون افريني ، افـراط ، تفـريط ، اغـراق ، مبالغـه ، تعلـي ، نـادر تشـهبات او نـوې استعارې پـۀ دې غزلونـو کښـې پـۀ کراتونو محسوسوؤ .دا داسې لګي چې سمندر د ايران د هغه يو پنځوس شاعرانو پـۀ ډلـه کښـې د روه نـه هندوسـتان تـه تلـے دے .کـوم چـې د اکبر بادشـاه پـۀ اوان د ايـران نـه تللي وو .او د هنـدي سـبک پـۀ رنـګ خوشـتـه شـاعري ئې کړې وه.

خيالونو چنارونو کښې د سمندر استعارې د حېرت وړ دي. ځۀ کۀ هم عـام لوستونکي يا کم لوستي خلق به پـۀ دغـه اسـتعارو نـۀ رسي.خو پۀ شعر کښې دا رنګې استعارې راوړل يا وضع کول د هر شاعر د وس خبره نۀ ده.د ارسطو پـۀ وختونو کښـې بـه د اسـتعاراتو استعمال پۀ پربوانه توګه کېدۀ او عـن چې اسـتعاره بـه د يـو شـاعر پېژندګلو ګڼلې شوه.پۀ دې حواله سمندر غني دے.

دغــه رنـګ دا غزلونــه د "Lyricism" سـمندرونه دي .چـې د موسيقيت د روانۍ سره سره د مقصديت بې پاياوه ژوروالے هم لري .خو دې سره سره د سمندر ځينې غزلې ، غزلې نـه بلکـې "Action

د هر لفظ "Painting" معلومېږي ـ او بنده داسې قياسوي چې د هغه نه ګډا څڅېږي او يا پۀ وجدان داسې لګي لکه خوشبويانې چې د نسيم پۀ اوږو ټالى وهي ـ

سمندر د محبتونو شاعر دے ـ د هغه د تخليقي کرب نوعيت هم د محبت نه عبارت دے ـ ځکه خو هغه د محبتونو د نوؤ نوؤ امکاناتو پۀ لټون کښې ګرځي او زما خيال دے چې کۀ څوک د شعر پۀ ژبه د محبت د تفاهيم نه خوند اخستل غواړي نو هغوي دې د سمندر شاعري ارومرو ولولي ـ ځکه چې پۀ دې سمندر کښې پۀ دغه حواله د دُر دانو د بې شمېره سيپو درنګونه موجود دي او پۀ ځاني توګه ماته خو پۀ دې غزلونو کښې د سمندر هغه سرسين کېفيات پۀ خر وارونو ښکاري کوم چې د هغه د طالب علمۍ پۀ وختونو کښې د پېښور پوهنتون د يوې جذباتي ډغرې سره متعلقه دي او سمندر زما سره وخت پۀ وخت شريک کړي دي ـ هم دغه کېفيات وو چې سمندر ئې پۀ وقتي طور مات کړے دے ، ولې پۀ هغه دومره توان ضرور ؤ چې ځان ئې کوشير کړے دے ـ

دلته د يوې خبرې سپيناوے لازم ګڼم چې سمندر يوازې پۀ دغه حواله شعر نۀ دے وئيلے او نۀ ئې د محبت تر موضوع لکه ددې دور د ځينو شاعرانو د محدوديت پۀ حصار کښې راګېر کړے دے ، بلکې زۀ هغه د "Cosmic Consciousness" د رابرسېره کولو شاعر ګڼم ـ ځکه چې هغه د تشويش حال پۀ درد لړلے

دے او دا صلاحیت لري چې د کون و مکان په موضوعاتو دې تخلیقي عمل ته دوام وبخښي .او زما په نزد د سمندر ددغې صلاحیت په شا د هغه افاقي شعور دے چې د شرقي او غربي ادبیاتو د لوستې رڼا لري .او د اثر په نتیجه کښې ئې ددۀ په فکرونو د کیټس د جمالیاتي چاپیریال ، د براؤننګ د غنائیت او د ورډز ورتهـ د فطرتي ښکلاګانو ژور سیوري راخوارۀ کړي دي .دې هر څۀ د شرق او غرب یو داسې رنګین امتزاج جوړ کړے دے چې په سمندر ئې میوز "Muse" مئینه کړې ده .او د شاعرۍ دغه ښاپېرۍ ئې د علویت د زمزمو سره د تخیل کشمالو لۀ سنبال کړې راځي .بل اړخ ته د سمندر په فکرونو کښې د عصري شعور سرۀ هم غزونې کوي.هغه یوازې د انکشافِ ذات په دائره کښې نۀ ګرځي. بلکې د قام او ژبې د درد څړیکې هم محسوسوي او په تېره تېره هغه دا ویره هم خوري چې هسې نه پښتانۀ د کلتوري جلاوطنۍ ښکار شي ځکه چې هغه پخپل کلتور بې کچه مئین دے او هره ګړۍ مشاهده کوي چې د هغه اولس د یو زبردست تهذیبي بحران نه تېرېږي او هم لۀ امله پۀ دغه حواله چې کوم اورلګېدلے دے هغې ته سمندر تکنہے او مشویش پۀ نظر راځي.

پۀ فني لحاظ د سمندر شاعري بلا ځانګړتیا او تازګي لري. نااشنا تراکیب او محاکاتي نوښت پکښې شته.خو کله کله د لفظي پکارونې او موادو پۀ تکرار یا تتبع خپل فن ته زښت نقصان رسوي

ـ حالانکې د هر تخلیق وړومبے نقاد تخلیقکار پخپله وي ـ او سمندر چې یو بې رحمه ناقدانه مزاج لري ـ پۀ دې حلقه ئې د ځان احتساب نۀ دے کړے ، ځکه مونږ وینو چې د هغه پۀ شاعرۍ کښې پۀ فني لحاظ د ټیټې درجې شعرونه خال خال پۀ نظر راځي ـ چې زۀ ئې د سمندر د تجربې د کموالي د المیې سره تعبیروومـ او دغه چوکس به ددې بوقلمون شاعر د شاعرۍ نه ددۀ ذاتي جوهر د تجربو پۀ لاسو ډیر زر لرې کړي ـ او ځان به امر کړي ـ ځکه چې :

,, دلبری با قاهری جادوگری است ،،

ډاکټر علي خېل دریاب
چئرمېن پښتو څانګه
ملاکنډ پوهنتون

# بخښنه او مننه

خیالونه چنارونه زما په اصرار د استاد محترم ډاکټر راج ولي شاه خټک صیب مجوزه نوم دے چې زۀ ئې د خپلې وړومبۍ شعري مجموعې دپاره ویارم. په دغه شعري مجموعه کښې زما د ټول ټال شپږ ویشت کلن ژوند هاغه لفظي تصویرونه دي چې د خامیو او کمیو نه به مبرا نۀ وي ځکه چې د تخلیقي عمل نه وروسته مې خپله شاعري په غور نۀ ده لوستې .وجه ئې زما عمومي ناراستي او دغه خیال کېدے شي چې زۀ ئې بار بار تذکره کوؤم ،، چې باید پښتانۀ دې کره او پوره شاعري تخلیق کړي ځکه چې د وسائلو او مسائلو کمے نۀ لري ،، .

پۀ غېر شعوري توګه مې ددغه خیال په اثر کښې په خپلې شاعرۍ تسلي نۀ کیږي ځکه نو هسې سطحي پرې راتېر شوے یم بله وجه ئې دا هم کېدے شي چې د خپلې شاعرۍ په لوستو مې هاغه احساسات او جذبات هاغه شان بیا رالړزېږي کوم چې د تخلیقي عمل پۀ دوران کښې رالړزېدلي وو. پۀ ځان کښې مې ددغه کرب د زغملو تاب نۀ لیدۀ.

بحر حال اوس فېصله پهٔ تاسو ده زهٔ دومره وئیلے شم چې د لفظونو دا هنر او کاریګري زما نیکنے میراث نهٔ دے ـ بلکې کهٔ زهٔ دا اووایم چې ما پهٔ کومه بنجره علاقه کښې سترګې غړولې دي دا ددې علاقې پېشه هم نهٔ ده نو بده به نهٔ وي ـ

شاید ماته دا سوغات د قدرت لهٔ خوا د خپل بې قراره روح او حساس زړهٔ لهٔ خاطره راکړے شوي وي چې خپل محسوسات او مشاهدات پرې پهٔ خلاص مټ پهٔ لفظونو کښې خوندي کړم ـ ځان لهٔ د یو نامتو شاعر پهٔ حېث د دعویدارۍ حق نهٔ ورکوؤم البته پهٔ دې خبره پهٔ ځان ګواهي کوم چې شاعرانه مزاج ارومرو لرم او هغه داسې چې د دنیا پهٔ هاغه سر کښې به د انسان وینه توئې شي او ما به ځان دلته د مرۍ نه کلک نیولے وي ـ دغه شان د دنیا سرهٔ او سپین زر مې ځان ته نظر نشي کش کولے ولې ښهٔ مخ ښهٔ اواز او ښائسته څیز مې ځان پله سر راګرځوي ـ بلکې بیا مې پسې ډېر وخت څټ هم مات وي ـ دغه شان پهٔ لېونو او فلسفیانو مې هم سترګې خوږېږي لکه چې ختمه مې ورسره شریکه ده ـ دا او دغسې نور ډېر علامات شته چې د یو شاعر نه علاوه د بل چا نشي کېدے ـ

بحر حال د عصر حاضر او د پښتنو د مخصوصو نفسیاتو باوجود زهٔ ښهٔ پهٔ هوش و حواس کښې خپل کتاب خیالونه چنارونه چاپ کوؤم ـ پهٔ دې هیله چې چرته به د پښتنو دا عمومي بې حسي

ختمه شي او د پښتو پۀ کتابونو لوستو او اخستو به لاس پورې کړي او زما پۀ شان ډېر ليکونکي به اولس اوپېژني.

پۀ اخر کښې خو مې زړۀ غوښتل چې د هاغه ماشومانو ذکر او مننه هم پۀ ځائے راؤړم کومو چې پۀ چاپ خانه کښې د لفظ او معنې د حرمت نه ناخبره د دوۀ پېسو ټکو پۀ خاطر زما ددې کتاب يوه يوه پاڼه د بلې سره نخښلوله خو ممکنه نۀ ده بخښنه غواړم او مننه ئې هم کوؤم د هغوي نه علاوه به زۀ هاغه ښاغلي څنګه هېر کړم چې پۀ هر قدم ئې ډاډ راکړے دے دغه فهرست ډېر اوږد دے او هر چا لۀ دلته خپل مقام ورکول زما د وس کار نۀ دے پۀ دغه حواله بخښنه غواړم او د زړۀ لۀ کومي ئې مننه کوم.

پۀ درناوي

سمندر يوسفزے

پښتو څانګه ملاکنډ پوهنتون

۱۷ ستمبر ۲۰۱۳ء

o

علم پوهه او هنر و ماته راکا
خدایه ما په اسمان ستورے د سبا کا

د وهمونو بُت کدې پکښې متره کا
دا سینه په معرفت زما رڼا کا

د انسان غم مې له زړۀ نه جدا مۀ کا
خوږو زړونو له مې هر وختې دوا کا

مادیت کۀ خېر دے نۀ وي پروا نشته
ادمیت کښې مې د هر چا نه سېوا کا

خدایه مرګ هم د پښتو په پت کښې راکا
ژوند مې هم د پښتنو او پښتونخوا کا

O

زمکــه پــرې ډکــه شــه کــۀ چرتــه پکښــې کرکــه کېــږي
زمـا چـې خـومره هـم پـۀ خپـل جائيـداد کښـې زمکـه کېږي

د پښـــتنو وينـــې تـــوئې شـــوي دي پـــۀ کـــاڼو بوټـــو
پـــۀ پښـــتونخوا کښـــې داســـې ســـرۀ ګلونـــه ځکـــه کېـــږي

ځـــان درنـــه ولـــې ورک د ے زۀ درتـــه نااشـــنا ولـــې يـــم
مينـــه خـــو عمـــر لـــۀ هـــم دغســـې پـــۀ وركـــه کېـــږي

ټـک تـه مـې زړۀ نـۀ کېـږي ټـک لـۀ مـې لاس هـم نـۀ ورځـي
د محبـــت چـــې پـــۀ مزغـــو کښـــې زمـــا ټکـــه کېـــږي

مـــونږه کـــۀ ډېـــر هـــم ســـمندره پـــۀ خولـــۀ هـــېڅ نـــۀ وئيـــل
خـــو اوس قيصـــه زمـــونږ د مينـــې تـــر اټکـــه کېـــږي

o

څومره پۀ خوږ زړۀ پۀ ټکور پسې ورپورې وتم
اور ئې راپورې کړو پۀ اور پسې ورپورې وتم

د هغې ډکو سترګو تراړو شوندو اودرولم
ګنې خدائے شته چې پۀ پور پسې ورپورې وتم

زړۀ کۀ مې تلو خو پښې مې نۀ تلې پۀ بې ننګه پسې
ښۀ پۀ رښتيا د زړۀ پۀ زور پسې ورپورې وتم

کشتۍ مې نۀ وې د سيزلو قضا ځکه نۀ وه
زړۀ د هغې سره وو نور پسې ورپورې وتم

د لېونۍ د بنګړو شرنګ زما تر غوو نۀ شو
پۀ سمندر هسې پۀ شور پسې ورپورې وتم

o

پـهٔ مـا مئینـه د زړهٔ سـره داسـې نـهٔ شـي کېـدے
زمـا او سـتا د ژونـد خبـره داسـې نـهٔ شـي کېـدے

د محبـــــت د تـــــر نظـــــر پونـــــه را اووروه
زمـا د زړهٔ پـهٔ ژړۍ بـوګره داسـې نـهٔ شـي کېـدے

تـا بـه وئيـل د ښـار پـهٔ خلقـو پـورې زړهٔ مـهٔ تـړه
مـا بـه وې مـړه زوروره داسـې نـهٔ شـي کېـدے

د غرونـو يمـه خـو پـهٔ زړهٔ کښـې غرونـه نـهٔ سـاتمه
زهٔ داسـې نـهٔ يـم سـتمګره داسـې نـهٔ شـي کېـدے

تـهٔ پـهٔ خپـل حُسـن غـره ، زهٔ پـهٔ خپلـه مينـه غـره
زمـا او سـتا کلـے دلبـره داسـې نـهٔ شـي کېـدے

مـا وې اخـر بـه راتـه اووے چـې پـهٔ مخـه دې ښـه
هغـې وې نـهٔ شـي سـمندره داسـې نـهٔ شـي کېـدے

o

زمــــا پـــــهٔ زړهٔ بـــــه د ګلونــــو ارمـــــان دغســــې وي
چــې پــهٔ ســپرلي کښــې هــم ګلرنګــه جانــان دغســې وي

مــنګې ئــې کــوز کــړو لمــدې* زلفــې ئــې راڅنــډ وهلــې
د خنــدا شــنه شــوه وې ئــې مــړه بــاران دغســې وي

زهٔ ستاپهٔ غـم کښې يمـه ځـان تـه مې خيـال شـوے نـهٔ دے
د لېـــوني پـــهٔ لېونتـــوب کښـــې ګرېـــوان دغســـې وي

درازې زلفــې ســپين رخســـار او تکــې تــورې ســترګې
د يـــو مئـــين دپـــاره ټـــول قـــاتلان دغســـې وي

دغــه لــړ ژونــد بــه مــو هــم تېــر شــي لکــه زهــر و زقــم
چــې زمکــه داســې وي او خدايــه اســمان دغســې وي

د نــن انســـان بـــه د حېـــوان خويونـــه ولـــې نـــهٔ کـــړي
چــې پــهٔ دې ښــار کښــې د ټوپکــو دوکــان دغســې وي

* لـونـدې

د اوښکو ډکې سترګې ورانې زلفې زيږه ګونه
د يو غريب سړي د لور تصويران دغسې وي

خاورې به يو ځائے شو او خاورې به يو بل اووينو
چې د سرونو زمونږ تول واکداران دغسې وي

زما په زړۀ به وي تيارۀ ماله به خوب نۀ راځي
جې تر سحره ستا په شونډو پېزوان دغسې وي

لينده پۀ غاړو ګرځوي ټکے سبق نۀ وائي
زما د خوار کلي ساده ماشومان دغسې وي

چې يو ساعت لۀ هم د يو بل سترګې نۀ اړوؤ
بيا خو به خامخا د خلکو ګمان دغسې وي

زړۀ سمندر لره ماتيږي به بنګړي لېونے
پۀ محبت کښې خو بس ګټه تاوان دغسې وي

o

هغې کـه هـر څـو راکـول ماتـه غـانټول لاسـونه
خـو زمـا چرتـه رسـېدۀ ورتـه پـۀ شـپول لاسـونه

د اختـر شـپه ده خلـق خبـر د خـدائے لـۀ دره غـواړي
هغـې نيـولي د نکريـزو ډک کچکـول لاسـونه

چې د خوارانو پـۀ درشل څوک مسکيتوب نۀ پرېږدي
خدايـه د هغـې زوررو کـړې راټـول لاسـونه

چـې د تـاوان وخـت وي زمـونږ د ټولـو سـر ښـکته وي
چـې وخـت د ګټـې شـي نـو بـره ويـنم ټـول لاسـونه

چـې د چـا سـپک وي لاس پـۀ هغـه طبيـب زړۀ ګورمـه
زۀ سـمندر خپـل زړۀ لـۀ ګورمـه پـۀ تـول لاسـونه

o

راپــورې نښــتې وې لمبــې د غــرۀ نــه پــورې غــاړه
خوبونــه وينمــه د شــپې د غــرۀ نــه پــورې غــاړه

زمــونږ پــۀ کلــي د وريځــو تيــارې هســې نــۀ دي
زلفــې څنــډلې چــا لمــدې د غــرۀ نــه پــورې غــاړه

مــا پــۀ ځــان هســې لــولکۍ مئينــې کــړي نــۀ دي
مــا زړۀ شــيندلے د ے دغــې د غــرۀ نــه پــورې غــاړه

چــې زۀ تــرې راغلمــه اوس هــيڅ بــر برکــت نــۀ لــري
شــاړې پرتــې دي مېکــدې د غــرۀ نــه پــورې غــاړه

لکــــه چنــــار هســــې د خپلــــه ځانــــه اور اخلمــــه
چــې څــوک اوبــۀ وړي لــۀ چينــې د غــرۀ نــه پــورې غــاړه

اوس د ديوانــو دښــمن شــو ے يــم لــۀ هغــې ورځــې
مــا چــې وې کــړې څــو ټپــې د غــرۀ نــه پــورې غــاړه

چې را پــهٔ یــاد شي زړهٔ مـې هســې پــهٔ هــوا هــوا شــي
هاغـــه یـــو تـــال د لـــوپټې د غـــرهٔ نـــه پـــورې غـــاړه

هغســـې بیـــا دې ماتـــه اونـــهٔ وې پـــهٔ تـــا ځـــهٔ اوشـــو
هغـــه چـــې تابـــه ماتـــه وې د غـــرهٔ نـــه پـــورې غـــاړه

د ســـیند پـــهٔ غـــاړه او د ګـــورو ګـــورو ونـــو لانـــدې
د ســـمندر کـــوي قیصـــې د غـــرهٔ نـــه پـــورې غـــاړه

★★★

لمـدې بـوتې دې خدایـه ځکـه ئـې لمبـې اونـهٔ کـړې
ګنـي پـهٔ اور اورکښـې مـې څـومره یـارانې اونـهٔ کـړې

زړهٔ چـې زمـا نـه خفـه کېږي هسـې بـد بـه کـوي
ددهٔ دپـاره مـې پـهٔ ځـان کـومې کـانې اونـهٔ کـړې

o

خدایه دا څهٔ پاګل موسم دے ماله خوب نهٔ راځي
پهٔ زړهٔ مې سم راخور صنم دے ماله خوب نهٔ راځي

د خاموشۍ پهٔ بلاګانو مې نور مهٔ ماتوه
یاره څهٔ چل اوکړه قسم دے ماله خوب نهٔ راځي

لکه چې مائې خاورې ښې پهٔ ماشومتوب خوړلې
د خپل وطن راسره غم دے ماله خوب نهٔ راځي

څنګل دې مهٔ غزوه زلفې دې هم مهٔ خوروه
زمونږ پهٔ کلي کښې ماتم دے ماله خوب نهٔ راځي

څهٔ د حالا تو سمندره څهٔ د مینې زور دے
زما مرګے پهٔ هر قدم دے ماله خوب نهٔ راځي

o

ګـل پـاڼې پـاڼې د ے تـس نـس پـروت د ے لولکـه مـړه ده
غرونــه لمبــه لمبــه ، اســمان مــړ د ے هــم زمکــه مــړه ده

هغــه چــې تــاب بــه ئــې د ګــل د ګــذار هــم نــۀ لــرو
هغـــه جینـــۍ غریبـــه ګـــوره لـــۀ تهوپکـــه مـــړه ده

زمــا پــۀ مینــه کښــې ربښــتونې جــذبې شــوخې وینــې
دا زۀ پــرې مــړ یــم نــو هغــه هــم پــۀ مــا ځکــه مــړه ده

بنګـړي ئـې هـم مـات دي مـنګـې ئـې هـم کـودرې پـروت د ے
خدایــه پــۀ کــوم تــور لېــونۍ لــۀ غریــوه ډکــه مــړه ده

د چاپېرچــل نــه پــۀ وړو بانــدې هــم ســپورے اوشــو
بیــا ئــې پــۀ کــور کښــې د وادۀ پــۀ ورځ نینــزکه مــړه ده

د پښـــتونخوا پـــهٔ ونـــو بوټـــو ســـپېرهٔ بـــاد الـــوتے
پـــهٔ هـــره ځانګـــه کښـــې کـــوتره تـــوت خورکـــه مـــړه ده

ځـــو مره د پنجـــو پـــهٔ ســـر تلـــه بـــه ســـمندره هغـــه
چـــې لاس ئـــې پرېښـــے زمـــا بيـــا لـــهٔ يـــوه تيندكـــه مـــړه ده

✶✶✶

حســـن پرســـت يـــم تصـــور هـــم ځـــو مره ښـــكلے كـــوؤم
زهٔ هـــره شـــپه د خپـــل ارمـــان كالـــهٔ تـــه ورځم ګلونـــه

د خـــــدائے د پـــــاره دا كـــــوڅې او لارې اوپېژنـــــه
زهٔ بـــه تـــر څـــو تاتـــه پـــهٔ لارو كښـــې شـــيندم ګلومـــه

○

ګډیــــده څــــومره نازکـــه ، د نینـــــزکې پـــۀ وادۀ کښـــې
زړۀ مـې بـائیلو پـرې د ټکـه ، د نینـــزکې پـۀ وادۀ کښـې

شـوه زمـا د زړۀ ملوکـه ، څـومره زر پـۀ یـو سـاعت کښـې
کــۀ راغلــې وه پــۀ ورکــه ، د نینـــزکې پــۀ وادۀ کښـــې

مــا بــه هســې څـۀ بهانــه کـړه، زۀ بــه ورغلمــه کــور تــه
سـپوږمۍ ناسـته وه پـۀ زمکـه ، د نینـزکې پـۀ وادۀ کښـې

ګرځیـــده پســـې اوتـــره ، چـــې شـــوه کلـــه ترینـــه ورکـــه
د غریبـــې نـــه کنجکـــه ، د نینــــزکې پــــۀ وادۀ کښــــې

تورو سترګو پـۀ مـا سـترګې ، تـورې کـړې وې څـۀ بـل شـان
زۀ بــې خــوده اوومــه ځکــه ، د نینـــزکې پـــۀ وادۀ کښـــې

لېونی وه دومره شوخه، تا به وې راځي ټول خلق
دا مو نه تر اټکه ، د نینزکې پهٔ وادهٔ کښې

ټول خوبونه مې لاهو شول، د ارمان پهٔ سمندر کښې
ما لیدلې وه نینزکه، د نینزکې پهٔ وادهٔ کښې

★★★

د امېد رڼا به څنګه شي روښانه
ایرې شته دے خو بڅري پکښې نشته

زما کلے د فطرت او ښکلا بڼ دے
خو زما د خیال ملګري پکښې نشته دے

o

لاره تــرې ورکــه ده پــۀ لار پســې پــۀ ورکــه ګرځــي
ســتا لېــونے ســتا پــۀ ديــدار پســې پــۀ ورکــه ګرځــي

هغــه ئــې اوس هــم يــو ســاعت چرتــه لــۀ زړۀ نــۀ اوځــي
هغســې اوس هــم ښــار پــۀ ښــار پســې پــۀ ورکــه ګرځــي

بلهـــا زلمـــي بلهـــا غمونـــه پـــۀ اوږو ګرځـــوي
پــۀ دې وطــن کښــې پــۀ روزګــار پســې پــۀ ورکــه ګرځــي

د کــور مرغــۍ خــو ماشــومان او ښــځې هــم ويشــتے شــي
ښــکاري هغــه وي چــې پــۀ ښــکار پســې پــۀ ورکــه ګرځــي

ګنــاه ئــې داده چــې پښــتو وائــي پښــتون دے هغــه
اغيــار پــۀ هغــه ګنهګــار پســې پــۀ ورکــه ګرځــي

دومره صفت مې ستا د حُسن ورته کړې دې چې
ګلونه اوس ستا په رخسار پسې په ورکه ګرځي

چې ستا د مينې په تور خېژي لۀ دار نۀ ويرېږي
سمندر تل په داسې دار پسې په ورکه ګرځي

★★★

د رنګ او نور او د الفت نه پسې نۀ شو وتې
د ښائستونو د محلت نه پسې نۀ شو وتې

کۀ ارتقاء رانه پۀ وړاندې ځي پۀ مخه ئې ښه
مونږ لېوني د محبت نه پسې نۀ شو وتې

O

تیاري خوریږي د دنیا خولې ته چا اونهٔ کتل
ما خو به ډېر وې خو زما خولې ته چا اونهٔ کتل

ژبه مو هم ورکیږي مونږه پسې هم ورکیږو
بابا به وې خو د بابا خولې ته چا اونهٔ کتل

لکه چې تا هم پهٔ رښتیا زهٔ پېژندلے وومه
ستا انتخاب ښهٔ وو خو ستا خولې ته چا اونهٔ کتل

ګټه به خامخا کوي مینه د ګټې کور دے
پهٔ محبت کښې کهٔ د چا خولې ته چا اونهٔ کتل

بیا ئې د حورو او غلمانو صفت هسې اوکړو
بیا سمندره د مُلا خولې ته چا اونهٔ کتل

ه

د خوشبوګانو پــــهٔ لوګــــو پــــورې تارونــــه تــــړي
چــــې پــــهٔ بوګــــه بوګــــه کمڅــــو پــــورې تارونــــه تــــړي

رنــــګ پــــهٔ رنــــګ داســــې پلوشــــې راخــــوروي د نظــــر
ســــمه د ســــترګو پــــهٔ ښــــو پــــورې تارونــــه تــــړي

ارتقــــاء اودریــــده مســــکې شــــوه وې ئــــې هــــې پښــــتانهٔ
وړو لــــهٔ هغســــې پــــهٔ پښــــو پــــورې تارونــــه تــــړي

پښــتون فطــرت تــه احســاس اوشــو خــو اوس وخــت تلــې دے
اوس مــــې د قبــــر پــــهٔ خــــازو پــــورې تارونــــه تــــړي

د غــــلا لــــهٔ ویــــرې او کــــهٔ نــــه لــــهٔ خــــوار غربــــت دلاســــه
خلــــق پــــهٔ لوښــــو پــــهٔ لرګــــو پــــورې تارونــــه تــــړي

خپل ماشوم توب سړي ته ياد کړي سړے فکر يوسي
چې ماشومان په لولکو پورې تارونه تړي

د غزل ناوې به خود شنه وي لۀ خندا نه مدام
چې سمندر ئې په والو پورې تارونه تړي

★★★

کۀ د لرې يوه نخښه دا سې ښکاري
خو زما په زړۀ ده ښخه دا سې ښکاري

لکه توره مرغۍ ناسته وي په واؤرو
ستا په سپين مخ توره زخه دا سې ښکاري

ه

ستا سترګو کښې زور شته خو نشته دم زما پۀ زړۀ کښې
غم مۀ کوه مسکے اوسي ستا غم زما پۀ زړۀ کښې

دا شونډې چې مې دي د خاموشۍ تندر نيولي
دا هسې نۀ دي يـاره د ے ماتم زما پۀ زړۀ کښې

زۀ دومره مينه ورکړم چې لۀ ځانه ئې هم ورک کړم
نور هېڅ نشته کۀ شته خو يو صنم زما پۀ زړۀ کښې

هم دغسې به عمر لۀ تۀ وکيږي ستا يادونه
چې لږه وتره هم وي لږ شان نم زما پۀ زړۀ کښې

چې مينې تـه رښتيا د سړيتوب پۀ نظر ګوري
هم هغه پۀ رښتيا وي محترم زما پۀ زړۀ کښې

د نـــاز وړو بـــه دې څـــوک وي د خبـــرو بـــه دې څـــوک وي
کـــۀ دغســـې لـــړ پـــاتې شـــو موســـم زمـــا پـــۀ زړۀ کښـــې

راځـــــې دې ســـــمندره د همـــــه پښـــــتونخوا ښـــــکلي
د مینـــــې ټوکيـــــدلي دي شرشـــــم زمـــــا پـــــۀ زړۀ کښـــــې

★★★

پـــۀ ټپـــو کښـــې پـــۀ ســـندرو کښـــې ورانېـــږو
لېـــوني يُـــو پـــۀ اختـــرو کښـــې ورانېـــږو

داسـې هــم نــۀ ده چــې يــو بــل مــو شــي بــدي
خــو بــس هســې پــۀ خبــرو کښــې ورانېــږو

○

د ګل پاڼې په لارو کښې شيندم او په شا ګورم
چې ستا لۀ خوا نه ډکې سترګې ځم او پۀ شا ګورم

يو اځې د منزل په لوري ځم د ژوند په دشتو
غمونه د ارمان پۀ اوږو وړم او پۀ شا ګورم

زما نه يا زړۀ پاتې دے زما نه يا څۀ ورک دي
دا ځکه خو پۀ لاره قدم ږدم او پۀ شا ګورم

دا ستا د بې ننګئ او غرور څومره ښۀ تصوير دے
مات زړۀ ځمه ګريوان ځانله ګنډم او پۀ شا ګورم

زما د لېونتوب اوازه زر ده چې خوره شي
چې نوم اخلمه ستا چغې وهم او پۀ شا ګورم

د يار د کلي زړۀ صبرول ګران دي سمندره
د نۀ راتلو هر ځلې قسم خورم او پۀ شا ګورم

O

یـاد بـه ئـې نـهٔ یـم خـو زمـا ارمـان چـې هـر چرتـه وي
مسـکې دې اوسـي لکـه ګـل جانـان چـې هـر چرتـه وي

د خپلـو نرمـو پلوشـو پـهٔ غېـږ کښـې ځـائې راکـوي
زماپـهٔ سـر سـپوږمۍ وي شـین اسمان چـې هـر چرتـه وي

چـې زړهٔ مـې بـائیلو نـو د سـر خبـر څـهٔ لـهٔ اوغوا ړمـه
پـهٔ سـر او سـترګو سـتا پـهٔ سـر تـاوان چـې هـر چرتـه وي

تــل دې ابــاد وي تــل دې دغســې خوشــحاله اوســي
زمــا دا څــو تنــه خــوارهٔ یــاران چــې هــر چرتــه وي

مینــه شــیندم وایمــه تــل د ازادۍ ســندرې
غــلام دې نــهٔ وي د هیڅــا انســان چــې هــر چرتــه وي

لمبــه لمبــه شــي ســمندر هســې ایــره شــي
ســتا ارمــان اوکــړي لبــونۍ پېــزوان چــې هــر چرتــه وي

o

پـه ګـل راغوږيـده پـه ښائسـتونو کښـې اوده شـوه
ګلرنګـه لـولکۍ پـه سـرو ګلونـو کښـې اوده شـوه

د اوښـکو دوه رنـې لارې ئـې وتـې پـه رخسـار دي
ګلاب ئې خواتـه پـروت دے پـه خيالونوکښې اوده شوه

مـوده پـس بـه تـا اوويـنم پـه خـوب کښـې خوبـولې
د درد سـريکه ايلـه کـه پـه زخمونـو کښـې اوده شـوه

سـبا لـه بـه ئـې خامخـا لـه سـترګو شـراب څـاڅي
نـن بيـا نشـه نشـه پـه شـرابونو کښـې اوده شـوه

سـتهونه مـو پـه يـو بـل پسـې هغسـې مـات نـه دي
جذبـه د محبـت زمـونږ پـه زړونـو کښـې اوده شـوه

سکنې سکنې ماښام کښې ښاپېرۍ پۀ خندا راغله
ما وې جوړې نن بيا پۀ تورو غرونو کښې اوده شوه

نن ما هم څو شعرونه دي ليکلي سمندره
شعرونه ئې وئيل او پۀ شعرونو کښې اوده شوه

★★★

ما پۀ خپل زړۀ يوه ذره هم ارمان پرېښے نۀ دے
ما به راؤړۀ کۀ هغې هر څو ماتوله بنګړي

هغه مې اوس خدائيګو که يو ساعت د زړۀ نه اوځي
هغه پۀ خوا کښې چې به چا مې شړنګوله بنګړي

o

خوند ئې نشته زما واړه په نظر دي
ښکلي بیا په څه خبره مرور دي

هسې نه دي خورې شوې خوشبویانې
ښاپیرۍ جوړې راغلې په ګودر دي

عشق او عقل سره بیا مشت و ګرېوان دي
ستا په حقله لېونۍ دواړه په شر دي

تول د یو ادم اولاد دے خو څه چل دے
څوک یخ سېوري ته پراته دي څوک په نمر دي

ښتانهٔ څه لېوني دي نه پوهېږي
زما ورونه دي که لر دي او که بر دي

چې هر وخت ئې سر د يار پۀ ځنګل پروت وي
خدايه هاغه خلق څومره بختور دي

ستا د يو نظر ليدو د پاره ياره
لاهو کړي مې هر څۀ پۀ سمندر دي

★★★

کۀ مې فن دے کۀ مې ژوند او کۀ مې زړۀ دے
دا زما سره چې څۀ هم دي نو ستا دي

يو مسلک د محبت زمونږ شريک دے
ګني نور خو مسلکونه مو جدا دي

○

باران چې ښـۀ د نـور او رنـګ اوشـي نـو دربـه شـمه
چې سـتا پـۀ کلي کښې لونـګ اوشـي نـو دربـه شـمه

زمـا غـم مـۀ کـوه ورځـه سـاقي پاسـلنې مـۀ ږده
چې محفـل تـود شـي کلـه کړنـګ اوشـي نـو دربـه شـمه

د خپـل ارمـان ثلـي لـۀ رابـه وړمـه مـات کـودري
چې د ګـودر پـۀ غـاړه جنـګ اوشـي نـو دربـه شـمه

چې د سپوږمۍ پـۀ رڼـا سـتا سـپورے را اوغزيـږي
چې پـۀ غوږونـو کښې مې شـرنګ اوشـي نـو دربـه شـمه

چـې سـمندر لکـه خوشـحال د رتنهبـوره راشـي
چـې ښـۀ غنـدنې د اورنـګ اوشـي نـو دربـه شـمه

○

زۀ چې پۀ هره لاره ځمه نو لونګ کرمه
پاګل خو نۀ يم چې تخمونه به د جنګ کرمه

ستا د خمارو مړو کتو اثر به خود دغه وي
خلق ازغي کري او زۀ هر ځائے کښې بنګ کرمه

پۀ ما يوه ذره ګمان د بې ننګۍ مۀ کوه
زۀ خو د خلقو پۀ ذهنونو کښې هم ننګ کرمه

بوئي به تري خېژي ستا پۀ زلفو کښې زما د وينو
دا رانه مۀ پوښته چې زۀ کشمالي ځنګ کرمه

هغې چې کله وو راکړي کلک خپل سرۀ لاسونه
لۀ هغه ورځې سمندره ځکه رنګ کرمه

o

زړۀ زمـــــا پــــۀ دغـــــې ګـــرم دے
چـــې پـــۀ زلفـــو کنبـــې دې خـــم دے

ســــتا بانـــۀ خېـــر کـــۀ کـــارۀ دي
دلتـــه کـــوم کـــار دے چـــې ســـم دے

ســــتا پـــۀ زلفـــو کنبـــې رنـــګ راؤړي
کـــۀ ګـــلاب دے کـــۀ شرشـــم دے

د ځـــان غـــم راســـره نشـــته
خـــو بـــس ســـتا راســـره غـــم دے

ســــتا یادونـــــه دي او زۀ یـــــم
تـــــوره شــــپه ده خلــــق دم دے

ستا د مخ كتاب ليكمه
زما زړهٔ قلم دے

سمندر وي بې حسابه
پهٔ حساب هر يو قدم دے

★★★

څهٔ فريب ژنه مصنوعي ورځ ده
د شېطانانو د خلاصي ورځ ده

د اختر ورځ او پهٔ مخونو اوښكې
خدايه دا څنګه جنتي ورځ ده

o

ګودر خالي دے خو پۀ غاړه ئې ټيکرو ته ناست دي
لېونۍ نشته لېوني ماتو بنګړو ته ناست دي

د بنګو تل کښې نا قلاره ماشومان د کلي
څومره خاموشه څومره غلي لولکو ته ناست دي

دا سړے څومره بختور دے چې پۀ مړينې ئې هم
د کوه قاف ښاپيري سرته ناست دي ښو ته ناست دي

دې خلقو کومه ورځ زمونږ د پاره خېر غوښتے دے
دا خلق عمر لۀ زمونږه ورکېدو ته ناست دي

د سمندر نوې بلها چې راپاڅي
ښتانۀ هسې پۀ ژړا تېرو چپو ته ناست دي

o

مــونږ لـــۀ د خپلـــې دائـــرې نـــه راواتـــۀ نښـــۀ نـــۀ دي
دواړه نښـــۀ پوهـــه يُـــو نـــور يـــو بـــل تـــه کاتـــۀ نښـــۀ نـــۀ دي

زۀ نښـــۀ خوشـــحاله يـــم پـــۀ مـــا بانـــدې خـــو نښـــۀ راغلـــي
دې خلقـــو هســـې وې ددې کلـــي اوبـــۀ نښـــۀ نـــۀ دي

ســـترګې دې واړوه د خـــدائے لـــۀ پـــاره مـــۀ راګـــوره
زړۀ مـــې درزيـــږي زمـــا زړۀ لـــۀ درزيـــدۀ نښـــۀ نـــۀ دي

د ځينـــو خلقـــو نـــه ربښـــتيا ســـړي لـــۀ کرکـــه ورځـــي
دې ځينـــې خلقـــو تـــه ربښـــتيا نـــزدې کيـــدۀ نښـــۀ نـــۀ دي

مـا بـه سـتا خـولې خـولې تـه کاتـۀ راغلمـه اوچـې شـونډې
مـــا خـــو بـــه هســـې تاتـــه وې چـــې مالـــه څـــۀ نښـــۀ نـــۀ دي

زۀ پـــۀ ځـــان نـــۀ يـــم لېـــونۍ خـــو بيـــا بـــه خـــوب نـــۀ درځـــي
مياشـــت د صـــفرې ده ببخـــي کـــانړي وبشـــتۀ نښـــۀ نـــۀ دي

لېونی کېږه مه بنګړي د لاسو مه اوباسه
تاته خو هسې ما وئيلي وو چې سرۀ بنۀ نۀ دي

ما سره مۀ کوه خبرې خېر دے هسې کښېنه
خو زما اومنه باران ورېږي تلۀ بنۀ نۀ دي

ښکلي هر رنګ دي مزاجونه هم څو رنګه لري
دا څۀ خو ښۀ دي سمندره خو دا څۀ ښۀ نۀ دي

★★★

هر سحر يمه يواځې هر ماښام يمه يواځې
زما ژوند عجيبه ژوند دے زۀ مدام يمه يواځې

نۀ مې لاس چاله ورکړے نۀ د چا سترګو ته ګورم
څۀ خود سره لېونے يم پۀ هر ګام يمه يواځې

o

د زړۀ پـۀ سـر ئـې لیکـي هـم ئـې پـۀ لاسـونو لیکـي
پــۀ مــا مئینــه زمــا نــوم پــۀ ســرو ګلونــو لیکــي

زمـــا او ســـتا نـــامې دي اولیکـــي زمـــا پـــۀ وینـــو
کـــۀ فربـــتې چرتـــه نـــامې پـــۀ اســـمانونو لیکـــي

بایـد چـې دوئـي ئـې اول اولیکـي پـۀ خپلـو زړګـو
دا څـوک چـې خپلـې نظریـې پـۀ دیوالونـو لیکـي

ماتـــه هـــم ګـــوري خپلـــې زلفـــې هـــم پـــۀ شـــا اړوي
خـــدائے خبـــر څـــۀ هغـــه پـــۀ خپلـــو کتـــابونو لیکـــي

زمــــا د زړۀ د خوږیــــدو نــــه هغــــه څــــۀ خبــــر ده
خلقـــو تـــه وائـــي ســـمندر ډیـــر ښـــۀ شـــعرونه لیکـــي

○

کوؤم ديدن د خپل ساقي هر وخت د جام نه مخکښې
ځم مېخانې ته پهٔ رڼا کښې د ماښام نه مخکښې

شېخ دې نور هسې هېڅ بې هېڅه ځان لهٔ زړهٔ نهٔ چوي
حرام دې پرېږدي د حرم او د احرام نه مخکښې

هغه خوشحاله شوه زما پهٔ ليدو حد ئې نهٔ وو
اوښکې ئې اوچې کړې پهٔ پيغکي د سلام نه مخکښې

بيا وهي چغې پهٔ رندو د زنده باد ورپسې
کهٔ څوک شوهٔ مخکښې يو قدم زما د قام نه مخکښې

زما پهٔ سر درته قسم خوري هر سړے د کلي
خيال خو کوه کنه لاليه د الزام نه مخکښې

خلقو ته چا د جنت دومره صفت کړے دے چې
ځي سجدې له په مانځه کښې د امام نه مخکښې

زما قاتله زۀ هم هاغه سمندر یم کنه
ما ئې بخښلے د خپل مرګ د انتقام نه مخکښې

★★★

یا هاغه وخت چې ستا زلفې په ما به راخورې وې
یا دا وخت چې له ورایه ستا لیدۀ زما ارمان دے

هر څو کۀ پکښې ستا د پښو خاپونه دي وران شوي
بیا هم په هاغه لاره تلۀ راتلۀ زما ارمان دے

o

ګلونــــه شــــوکوي پـــۀ امېلونـــــو پســـــې مـــړه شـــوه
ګلرنګــــه او ګـــل پاڼـــه پـــۀ ګلونـــو پســـې مـــړه شـــوه

مـــــا ذکـــــر ورتـــــه څـــــۀ د ملاکنــــډ د ســــــپرلو کــــړے
د ښـــار ښـــاپیرۍ اوس پـــۀ ښائســـتونو پســـې مـــړه شـــوه

اول بــــه ئـــــې دعــــا کولـــــه ځــــان تــــه د خلاصـــــوني
منګـــي يـــادوي اوس پـــۀ ګودرونـــو پســـې مـــړه شـــوه

لـــۀ نمـــره ئـــې زړۀ مـــوړ وو لـــۀ اورونـــو ئـــې نفـــرت وو
پـۀ واؤرو کښې ئې ژوند شو پـۀ اورونو پسې مړه شـوه

مغــــــروره وه خبــــــر د بېلتانــــــۀ لــــــۀ زوره نـــــۀ وه
اوس اورم چــې زمــا پـــۀ تصـــویرونو پســـې مـــړه شـــوه

پـــــۀ خپلـــــه لوپټـــــه ئـــــې خــــورې زلفــــې دي تړلــــې
اوس نشـــته ســـمندر پـــۀ غورځنګونـــو پســـې مـــړه شـــوه

o

پـــهٔ دې وطـــن کښـــې هاغـــه خلـــق روزګارونـــه لـــري
څـوک چــې سـر تېـټ سـاتي اوږدهٔ اوږدهٔ لاسـونه لـري

لکــه زمــا څــوک پــهٔ محنــت بانــدې ايمــان نــهٔ راؤړي
خلقـــو لـــهٔ چـــل ورځـــي دا خلـــق هنرونـــه لـــري

چې رانـزدې شي نـو خپـل ځـان سړي تـه لـوړ ښکاره شي
څـــوک چـــې لـــهٔ ورايـــه قامتونـــه قيامتونـــه لـــري

مــا دې نــور خلـق هــېڅ بــې هېڅــه هســې نــهٔ ګرمــوي
هغــه دې ګرمــه کــړي چــې زلفــو کښــې ګلونــه لــري

د مـــازيګري د غـــرهٔ ســـر تـــه دواړه نـــهٔ خېـــژو نـــور
مـــا اوريـــدلي چـــې وريځـــې تندرونـــه لـــري

شـــښخه پـــۀ هـــر ځـــۀ بانـــدې پوهـــه يـــم ســـر مـــۀ خـــوږوه
هغـــوي تـــه وايـــه چـــې کمـــزوري ايمانونـــه لـــري

پـــۀ مـــا بـــه هغـــه خلـــق زړۀ ســـيزي د خـــدائے دپـــاره
چـــې پـــۀ زړګـــو کښـــې ســـمندره پرهرونـــه لـــري

★★★

لکـــه د غلـــو اوس هـــر ســـړے تيـــارو تـــه ځـــان اوباســـي
اوس پـــۀ دې ښـــار کښـــې د رڼـــا خبـــرې نـــۀ کـــوي څـــوک

دا خـــو مـــې ځکـــه ورځ تـــر ورځـــه دښـــمنان زيـــاتيږي
دا خـــو پـــۀ دې چـــې پـــۀ رښـــتيا خبـــرې نـــۀ کـــوي څـــوک

o

لکــه پــهٔ زړهٔ مــې پــهٔ شــېبو اوري بــاران ګجــرې
مــا دي لیــدلي د ســپرلي جانــان ګجــرې

خپلــه مغــروره لېــونۍ راتــه مســکۍ اودریــږي
چرتــه چــې اوویــنم منګــي، بنګــړي، پېــزوان ګجــرې

د یــو غریــب نیــازبینې لــور ئــې تماشــه کولــه
چــې خپلــې لــور لــهٔ اخســتې د کلــي خــان ګجــرې

د هــر ســپرلي د ګــل بڼونــو نــه شــپلونه تــاؤ دي
خدایــه پــهٔ مــا چرتــه کښــې هــم نــهٔ کــړې تــاوان ګجــرې

ســتا ســمندر ســتا پــهٔ زړګــي بانــدې ارمــان نــهٔ پرېــږدي
تالــه بــه راؤړي هــم د زمکــې او اســمان ګجــرې

O

پـــهٔ دروغــژن جانـــان اعتبــار مــهٔ کــوه نــهٔ بــه راځــي
زړګيـــه دومـــره انتظـــار مـــهٔ کـــوه نـــهٔ بـــه راځـــي

زمـــا پـــهٔ وينـــو ورتـــه هســـې هـــر کلـــے مـــهٔ ليکـــه
ګـورے کـهٔ راشـي هسـې زيـار مـهٔ کـوه نـهٔ بـه راځـي

ســـترګو لـــهٔ دومـــره لکـــۍ مـــهٔ کـــوه خالونـــه مـــهٔ ږده
يـــه لېـــونۍ دومـــره ســـنګار مـــهٔ کـــوه نـــهٔ بـــه راځـــي

لاس بـــه دې اوبريښـــي هغـــه بـــه دې هـــم اونـــهٔ وينـــي
هســـې پـــهٔ مـــا دګـــل ګـــذار مـــهٔ کـــوه نـــهٔ بـــه راځـــي

چـې سـتا پـهٔ سـترګو سـمندر پـهٔ کلـي ښـهٔ نـهٔ لګـي
يـــاره شـــر مـــهٔ کـــوه شـــاتار مـــهٔ کـــوه نـــهٔ بـــه راځـــي

○

عبادت خو داسې وي نو
محبت خو داسې وي نو

دا پۀ اور کښې چې مې ژوند دے
شرافت خو داسې وي نو

دا چې سترګو ته دې ګورم
بغاوت خو داسې وي نو

خپل قامت ته نظر اوکړه
قيامت خو داسې وي نو

هسې نۀ دې ورانې زلفې
خو غربت خو داسې وي نو

دا تيـــــــــاري او رڼاګـــــــــانې
تفـــاوت خـــو داســـې وي نـــو

هغـــــــــې اووې ســـــــــمندره
حقيقـــت خـــو داســـې وي نـــو

★★★

هغـــه ښـــېرې کـــوي پـــۀ شـــونډو کلـــه کلـــه ماتـــه
هغـــه کـــوي ماتـــه ټـــول عمـــر لـــۀ دعـــا پـــۀ زړۀ کښـــې

زۀ د دنيـــا پـــۀ ســـود او زيـــان بانـــدې څـــۀ کـــار نـــۀ لـــرم
زۀ ګرځـوم هـمېشـه خپلـه دنيـا پـۀ زړۀ کښـې

o

پـهٔ حـورو پسـې مـړهٔ شـو پـهٔ غلمـانو پسـې ګرځـو
مــونږ ځکــه د جنــت ټیکــه دارانــو پســې ګرځــو

رښــتیا کــهٔ درتــه وایــم پــهٔ بتــانو مئـین نـهٔ یُـو
مــونږ وږي یُــو نــو ځکــه پــهٔ بُتــانو پســې ګرځــو

مـونږ نـهٔ ښـکارو پـهٔ زمکـه د پیریـانو نـه کـم نـهٔ یُـو
مــونږ هســې لېــوني یُــو پــهٔ پیریــانو پســې ګرځــو

بــوتلي چــا غــزا لــهٔ وو ددغــې تپــوس نشــته
خـو ، لـے پـهٔ لـے پـهٔ خپلـو شـهیدانو پسـې ګرځـو

مــــونږ دواړه ســــمندره پــــهٔ ګلونــــو راغــــوړېږو
مـونږ دواړه همېشـه پـهٔ خوشـبویانو پسـې ګرځـو

o

چې د بل بد نۀ وائي ځان نۀ ستائي څۀ به وائي
مُلا چې حورې او غلمان نۀ ستائي څۀ به وائي

چې پردے جنګ کور لۀ راوړي نو بيا خو خامخا به
چې پښتنې خپل باتوران نۀ ستائي څۀ به وائي

اوس هغوي هم د ضرورت پۀ نظريه پوهه شو
اوس ښاپيري چې تورابان نۀ ستائي څۀ به وائي

نور څۀ ئې نۀ دي زده ټول عمر ئې صفت کړے دے
دا مريدان چې خپل پيران نۀ ستائي څۀ به وائي

چې ګورې زلفې ، تورې سترګې او تک شنۀ خالونه
چې يو شاعر خپل قاتلان نۀ ستائي څۀ به وائي

چـــې ماښـــامې وي وريـــځ ګـــوره وي بـــاران وريـــږي
بيـا چې څوک جام نۀ ستائي جان نۀ ستائي څۀ به وائـي

غـوارې لـۀ خدايـه پـۀ دعـا کښې مـدام ژونـد او جانـان
چـې سـمندر ژونـد او جانـان نـۀ سـتائي څـۀ بـه وائـي

★★★

د ژونـد پـۀ لارو تيندکونـه مـې کـم شـوي نـۀ دي
ستا د خـورو زلفـو خيالونـه مـې کـم شـوي نـۀ دي

زۀ چـې ايلـه ايلـه پـۀ ښـۀ بـد پوهـه شـوے يمـه
زړۀ مـې خـوږېږي پرهرونـه مـې کـم شـوي نـۀ دي

O

د بېلتانــهٔ زړهٔ چــاؤدي زور تـــه مـــې هــم زړهٔ نــهٔ كيــږي
يخنــي مــې هــم كيــږي خــو اور تــه مــې هــم زړهٔ نــهٔ كيــږي

د محبـــت پـــوخ شـــوے فصـــل رانـــه اورژېـــدو
زړهٔ مــې خــوږيږي خــو لــؤ لــور تــه مــې هــم زړهٔ نــهٔ كيــږي

پــهٔ مــا د ښــار ښــاپيرو داســې جــادو كــړے دے چــې
زړهٔ مــې تنــګ شــوے دےخوكورتــه مــې هــم زړهٔ نــهٔ كيــږي

څـــهٔ دوه رنګـــي ده څـــهٔ فرېـــب منافقـــت دے روان
د ژونــده ســتړے يــم خــو ګــور تــه مــې هــم زړهٔ نــهٔ كيــږي

داســې څــهٔ نــهٔ دي چــې پــهٔ تــا بانــدې مــې پــورې نــهٔ دي
چــې تاتــه ګورمــه يــو پــور تــه مــې هــم زړهٔ نــهٔ كيــږي

د ســمندر پــهٔ غــاړه ناســت يمــه پــهٔ دوه زړهٔ كښــې يــم
خاموشــۍ مــړ كړمــه خــو شــور تــه مــې هــم زړهٔ نــهٔ كيــږي

o

مونږ بې اوزاره بې هنره رانیوې کوترې
ځکه د لاسو نه زمونږه الوتې کوترې

مونږه د امن د قیمت د زوره ځه خبر وو
مونږ چې وارۀ وو مونږ به هر ځائے کښې ویشتې کوترې

ستا د خیرن نیت په ښکالو پوهه شوې اوګرځیدې
ګنې زمونږ د بلې ځوکې ته راتلې کوترې

په شش و پنج کښې یم ولاړ د جنګ او امن په برید
چرته چې اوویـنم په وینو تکې سرې کوترې

دغه د بل کلي ښکاریان دي ځي زمونږ د کلي
زمونږ په کلي کښې بلها کړلې دوې مړې کوترې

نوم دې بدنام دے په نړۍ کښې سمندره هسې
نور دې شر بدي شي بلها ساتې کوترې

○

زوروره داسې نه وه
دا خبره داسې نه وه

دا د غرونو لېونی خو
ځان ته غره داسې نه وه

دا کوتره تکه سپینه
خو اوتره داسې نه وه

په ژړا چرته راغلې
لهٔ ګودره داسې نه وه

کۀ خفه به وه لۀ ماخو
مروره داسې نۀ وه

دا سپوږمۍ چرته روښانه
تر سحره داسې نۀ وه

هم لۀ ځان هم لۀ جهانه
ناخبره داسې نۀ وه

ستا بازار کوڅه خو
پېښوره داسې نۀ وه

هغې اووې دروغژنه
سمندره داسې نۀ وه

O

مـــونږه بـــې شـــکه دعـــا غوښـــتې وه د ډېـــر بـــاران
کـــــهٔ وروې وروه خدايــــــه خـــــو د خېـــــر بـــــاران

نـــور کلـــه تـــهٔ بـــه د بـــاران نـــه پـــهٔ مـــا زيـــات وريـــدې
خـــو څـــهٔ چـــل اوشـــو دا ځـــل تـــهٔ کـــړې رانـــه هېـــر بـــاران

بيـــا مـــې د تلـــو نـــوم پـــهٔ خولـــهٔ وانـــهٔ خســـتو اومـــې خنـــدل
چـــې هغـــې اووې يـــاد دې نـــهٔ شـــي هغـــه تېـــر بـــاران

د خـوب قسـمت مـې هـم پـهٔ خپـل کالـهٔ کښـې پـاتې نـهٔ دے
لکـــه د غـــم شـــو لـــهٔ مـــا بيـــا هســـې چـــاپېر بـــاران

خپـــل زړهٔ ئـــې يـــخ کـــړو خـــو زمـــونږ تنـــده ئـــې ماتـــه نـــهٔ کـــړه
هغســـــې بيـــــا کـــــړو ســـــمندره تېـــــر و بېـــــر بـــــاران

O

هغــې د خپــل ښائســت د نــور او رنــګ اورونــه خــوارۀ
چې پــۀ غصــه کښــې ئې د ســرو شــونډو ســرونه خــوارۀ

نــن ئــې زمــا د زړۀ پــۀ وینــو خپــل لاســونه ســرۀ کــړه
پــــرون ئــــې هســــې پــــۀ دروغــــه قرآنونــــه خــــوارۀ

هغــې پــۀ ټــال بانــدې پــۀ زوره څــۀ ځــانګلي وو چــې
بیــا ټولــه ورځ ئــې پــۀ قیصــو مالــه غوږونــه خــوارۀ

اوس پــۀ پردو کوڅو کښــې ســترې اوچې شونډې ګرځي
دغــې جینــۍ خــو بــه پــۀ واؤرو کښــې ګلونــه خــوارۀ

یـــــواځې مــــا هــــم ســــمندره زړۀ خــــوړلے نــــۀ وو
هغــې بــه هــم د خپلــو شــونډو نــه پاړونــه خــوارۀ

○

هـر ځـۀ پيکـه پيکـه دي شـوخه زنـدګي نـه کيـږي
چرتـه چـې امـن نـۀ وي شـر جـوړ وي مسـتي نـۀ کيـږي

زمـا او سـتا پـۀ مزاجونـو کښـې تضـاد دومـره دے
سـتا پـۀ شـان چـرې هـم زمـا نـه دهوسـي نـۀ کيـږي

مـات ئـې پخپلـه کـړې او ژاړې ورتـه هـم پخپلـه
يـه لېـونۍ تاتـه خـو نيمـه ورځ بنګـړي نـۀ کيـږي

چـې سـتا د زلفـو خوشـبوئي پـرې خـوره شـوې کلـه
ګـل مخـې اوس پـۀ هغـه زمکـه کشـمالي نـۀ کيـږي

اوس بـه شـور هـم کـوي او هـم بـه غورځنګونـه کـوي
د سـمندر نـه بـس دے نـوره خاموشـي نـۀ کيـږي

○

د مینـــې حــد دے زړونـــو خـــولې ورکـــړې
پرخــــه ده بیــــا ګلونـــو خـــولې ورکـــړې

چـــې د نظـــر غېـــړه دې تـــاؤ کـــړه لـــۀ مـــا
ایلـــه مـــې اوس زخمونـــو خـــولې ورکـــړې

زمـــا د ســــترګو نـــه خوبونـــه تـــروړي
بیـــا دې زړو یـــادونو خـــولې ورکـــړې

رنـــګ بـــه مـــې ولـــې دا ســـې نـــۀ زیړېـــږي
چـــې دې پـــۀ مـــخ رنګونـــو خـــولې ورکـــړې

دا دے خبـــر شـــوم چـــې بـــې غمـــه ګرځـــې
دا دے زمـــا غمونـــو خـــولې ورکـــړې

پـــۀ مـــونږه ځـــوک دي ســـمندره خفـــه
پـــۀ مـــونږه ښـــۀ شـــکونو خـــولې ورکـــړې

o

چـــې زلفـــې څنګـــه وي د ښـــاپېرۍ دانـــه وانـــه
هـم داسې کـړو مـونږ خپلـې بـې وسـۍ دانـه وانـه

پـهٔ غـــاړه یـــو امېـــل د لېـــونۍ وو څـــومره ښـــکلې
پــهٔ غـــاړه شـــو امېـــل د لېـــونۍ دانـــه وانـــه

یـواځې شـاه زلمـي نـهٔ دي چـې نشـته پـهٔ حجـره کښـې
دې وخـت لـهٔ چینـې هـم کـړې جینکـۍ دانـه وانـه

زهٔ هـم لکـه د شـبخ پـهٔ شـانې نـهٔ ووم پوهـه شـوے
شـیندلي پـرې مـا هـم وې څـهٔ روپـۍ دانـه وانـه

پـهٔ خـوب کښـې سـره ډولـۍ مـې و ه لیـدلې سـمندره
شـیندلي پـرې هـر چـا خـوږې پـولۍ دانـه وانـه

o

د ماښام نه تر سحره راته یاد ده
ستا یوه یوه خبره راته یاد ده

چې زما او ستا د مینې خلاصه ده
لېونۍ هغه سندره راته یاد ده

کۀ د ښار پۀ ګلابونو کښې مې ژوند دے
د خپل کلي شنه بوګره* راته یاد ده

چې زما سره به هر وختې پۀ جنګ وه
هاغه شوخه جنګ بېره راته یاد ده

ترانې ځکه د امن هر ځائے وایم
خپله سپینه مړه کوتره راته یاد دۀ

* د غرونو غاړو یو بوټے دے

خپل ناکام او زغم کۀ غم دې رانه هېر کړو
خو ستا هره زوروره راته یاد ده

کۀ هر څو یمه قائل د ارتقاء خو
خپله توره ډال او زغره راته یاد ده

د ژوند د هر پړاو لۀ هرې څرېکې
هره چغه سمندره راته یاد ده

★★★

پۀ ځان مې پروا نۀ وي خو پۀ بل مې زړۀ خوږېږي
اول مې پۀ پردي ورسته پۀ خپل مې زړۀ خوږېږي

قدرت راله څۀ بل شانې خوږمن زړګے راکړے
پۀ ړوند مې زړۀ خوږېږي او پۀ شل مې زړۀ خوږېږي

o

څــو مره ښائســـته څــو مره نازکــه زمــا خــوا لــه راځــي
پــۀ مــا ئــې زړۀ خېــژي نــو ځکــه زمــا خــوا لــه راځــي

د محبـــت د ګـــلاب پـــاڼې پـــرې شـــيندم يـــارانو
څــوک چــې د لــرې نــه پــۀ ورکــه زمــا خــوا لــه راځــي

د ښـــکلاګانو پـــۀ رڼـــا بانـــدې ســـم ســـېورے اوشـــي
چـــې د ښائســـت د ښـــار ملکـــه زمـــا خـــوا لـــه راځـــي

چـــې د پيريـــانو ماماګـــانو څـــو قيصـــې اوکړمـــه
اوخانـــدي زر راپـــاخي ســـپکه زمـــا خـــوا لـــه راځـــي

پـۀ شـين اسـمان کښـې سـمندره مـې پـۀ خـوا نـۀ راځـي
بـــاران وهلـــې ګنجلکـــه زمـــا خـــوا لـــه راځـــي

O

زمــا پــهٔ زړهٔ کښــې بــه د مینــې لــوئے دریــاب نــهٔ وے
کــهٔ ســتا ځــوانی لمبــه لمبــه شــراب نــهٔ وے

چــې مــونږ د یــو بــل یــوه ذره هــم قــرض داري نــهٔ وے
پــهٔ محبــت کښــې چــې بیخــي حســاب کتــاب نــهٔ وے

زمــا بــه ولــې ښــکته شــوے دا خــود ســره ســر وو
خــو کــهٔ پــهٔ مینځ کښــې مــو رقیــب خانــه خــراب نــهٔ وے

بیــا کــهٔ ټوپــک دې ورکــوؤ او کــهٔ دې تــوره ورلــه
کــهٔ پــهٔ دې خــاوره کښــې قلــم نــهٔ وے کتــاب نــهٔ وے

معیــار د حُســن یــا زمــا دومــره اوچــت خــو نــهٔ وے
یــا خــو چــې ښــکلي پــهٔ دې کلــي کښــې نایــاب نــهٔ وے

یــا مــو د یــو بــل ســره مینــه ســمندره نــهٔ وے
یــا دغــه شــیخ غریــب خــو دومــره پــهٔ عــذاب نــهٔ وے

○

کــۀ پــۀ خپلــو کښــې وي وران خــو ماتــه يــو دي
دا زمـــا ټــول رقيبـــان خـــو مـــا تـــه يـــو دي

کــــۀ د کــــاڼو کــــۀ د اور کــــۀ د اوبــــو دي
تندرونــــه د اســــمان خــــو مــــا تــــه يــــو دي

چــې پــرې مــا هــر وخــت پــۀ مــاتو بنګــړو اولــي
ســـرۀ لاســـونه د جانـــان خـــو مـــا تـــه يـــو دي

تـــورې ســـترګې تـــور بانـــۀ او تـــورې وروځـــې
ســتا پــۀ ســپين رخســار هنــدوان خــو ماتــه يــو دي

زۀ يـــــــوا ځې محبـــــت شـــــيند مه ګـــــــرځم
دا د مينـــې دښـــمنان خـــو مـــا تـــه يـــو دي

د لســــــتوڼو لـــــۀ مـــــارانو ســـــــمندره
تېښـــته نشـــته پاړوګـــان خـــو مـــا تـــه يـــو دي

o

هغـــــې ورتـــو ورتـــو* کتـــو بلهـــا ازار اخســـــتے
ســـتا تـــورو ســـترګو ســـتا بڼـو بلهـــا ازار اخســـتے

مـــا ســـتا د زلفـــو بـــن لـــۀ هـــر وخـــت کشـــمالې راؤړي
مـــا ســـتا پـــۀ ســـر د ښـــاپيرو بلهـــا ازار اخســـتے

يـــو ځـــل بـــه دغـــه بـــام لمبـــه شـــي شـــنۀ لـــوخړه بـــه شـــي
دغـــــــې د ډيـــــرو لېونـــــو بلهـــــا ازار اخســـــتے

پـــۀ دوئـــي ئـــې لاس بـــر وو پـــۀ مـــا بانـــدې ئـــې نـــۀ رســـيدو
دې قهرژنـــــــې د بنګـــــــړو بلهـــــا ازار اخســـــتے

* وريتو وريتو

اوس چې کتاب ګورم د سترګو نه مې اوښکې څاڅي
لکه چې ما د لولکو بلها ازار اخستے

بیا په ما ډېره موده سر ګرځېدو نۀ ګرځېدم
د هاغه جونو ګډېدو بلها ازار اخستے

زۀ سمندر هم زړۀ لرم دومره بې زړۀ خو نۀ یم
ما ستا د ګل اننګو بلها ازار اخستے

***

تا چې په سترګو کښې په غلا د زړۀ خبره اوکړه
دا دې په عمر کښې زما د زړۀ خبره اوکړه

کۀ ستا په مخ د مسکیتوب چپې خورې ورې شوې
ما درته هم یاره صفا د زړۀ خبره اوکړه

O

هېڅ پروا نشته که نور خلق شکمن دي
خو په مونږه ستا د کور خلق شکمن دي

دا چې هره شپه د غرۀ په سر بلیږي
لېونی په دغه اور خلق شکمن دي

دا بنګړي مات کړه چې نور په لیچو نۀ کړې
د بنګړو په هاغه شور خلق شکمن دي

سپینه ورځ دې په ځان توره تیارۀ کړې
ستا په مخ د ے اور بل خور خلق شکمن دي

چې یو بل ته پکښې ګورو سمندره
اوس په هاغه یو انځور خلق شکمن دي

o

پــــهٔ منتونـــــو پــــهٔ زارو پــــهٔ ژړاګـــــانو بانـــــدې
لــهٔ خدایــه غواړمــه جانــان پــهٔ دعاګـــانو بانـــدې

یـــو دم غریـــو اونیـــوه راپاســـېده راغـــاړې وتـــه
یـــو دم پښـــېمانه شـــوه پـــهٔ خپلـــو جفاګـــانو بانـــدې

هـــر ځـــل ســـوګند کـــوؤم چـــې نـــور بـــه درتـــه نـــهٔ ګورمـــه
هـــر ځـــل ســـوګند مـــې مـــاتوي پـــهٔ اداګـــانو بانـــدې

د تـــــورو ســـــترګو بلاګـــــانو د اثـــــر لـــــهٔ زوره
خپـــل ماشـــوم زړهٔ قـــلارؤم پـــهٔ بلاګـــانو بانـــدې

ســـتا پـــهٔ کوڅـــه کښـــې هـــره ورځ ســـتا د لیـــدو پـــهٔ ارمـــان
کـــاڼي وریـــږي لېـــونی پـــهٔ ملنګـــانو بانـــدې

هـــر خـــوا تیـــارې دي ســـمندره اســـمان هـــم نـــهٔ ښـــکاري
ځـــهٔ شـــړق پریـــوتے د وطـــن پـــهٔ رڼاګـــانو بانـــدې

o

د نظـــــر تنـــــدر پرېــــوتے دې پـــــۀ مـــــا دے
زړۀ مـــــې بیـــــا ســـــم د ماښـــــامه پـــــۀ درزا دے

څـــومره ښـــکلے خـــوب لیـــدلے مـــې بیګـــا دے
مـــا وې تـــۀ راســـره ناســـته ئـــې ســـبا دے

تـــا خـــو خپلـــه لوپټـــه پـــۀ ســـر کـــړه لاړې
خـــو ســـتا ورک لېـــونے اوس هـــم پـــۀ ســـودا دے

کـــۀ لاســـونه مـــو ورکـــړي دي یـــو بـــل لـــۀ
خـــو زمـــا منـــزل جـــدا او ســـتا جـــدا دے

پـــۀ خولـــۀ هســـې وے چـــې زړۀ مـــې درنـــه تـــور دے
خـــو پـــۀ لاســـو دې لـــیکلے نـــوم زمـــا دے

ځومـــه ورځ ده چـــې پـــهٔ ګـــل ئـــې یـــم وېشـــتلے
څوېمـــه ورځ ده چـــې دا زړهٔ مـــې پـــهٔ هـــوا دے

ســـتا د ګـــورو زلفـــو ســـپورے مـــې پـــهٔ ســـر دے
کـــهٔ نـــهٔ ګـــور ســـپورے پـــهٔ ســـر مـــې د همـــا دے

پـــهٔ ســـر تـــار نـــهٔ لـــري کـــار ئـــې پـــهٔ چـــا نـــهٔ وي
ســـمندر خـــو بـــس پـــهٔ دې حقلـــه باچـــا دے

★★★

لکـــه شـــبنم ئـــې پـــهٔ راتـــول غـــانـــټول کېـــې پرېښـــودمه
وخـــت ښـــهٔ پـــهٔ نـــره د ســـتم پـــهٔ شـــپول کېـــې پرېښـــودمه

هاغـــه چـــې مـــا بـــه خپلـــې متـــې وزرونـــه ګڼـــل
هغـــوئي د ژونـــد پـــهٔ لمبـــه زن مـــاحول کېـــې پرېښـــودمه

o

څـۀ پـۀ ورېمـو او ښائسـتونو کښـې مـې شـپه کـړې ده
د ښـا پېرو سـره پـۀ غرونـو کښـې مـې شـپه کـړې ده

د بـــل پـــۀ ذهـــن د اثـــر پـــۀ هنـــر پوهـــه يمـــه
لکـــه نکريـــزه پـــۀ لاســـونو کښـــې مـــې شـــپه ده

زۀ بـــه اوس خامخـــا صـــفت د ښائســـتونو كـــوۀم
لکـــه د پرخـــې پـــۀ ګلونـــو کښـــې مـــې شـــپه کـــړې ده

دا لـــوړې ونـــې راتـــه اوس د بنګـــو بـــوتې ښـــکاري
پـــۀ دنګـــو دنګـــو چنـــارونو کښـــې مـــې شـــپه کـــړې ده

ســـتا د تـــال هـــر ښـــاخکي تـــه زۀ ورغـــاړې وتـــے يمـــه
ستاســـو د کلـــي پـــۀ بڼونـــو کښـــې مـــې شـــپه کـــړې ده

ما به بنګړي راټولول ستا د خوشبو په اساس
څه په ارمان په ګودرونو کښې مې شپه کړې ده

زۀ که هر څو په دې خبرو يقين نۀ لرمه
خو ستا په سر په زيارتونو کښې مې شپه کړې ده

ما سمندر په تا پسې لکه بې کوره مرغۍ
په غنو جرو او شپلونو کښې مې شپه کړې ده

★★★

دا چې زۀ لمبه لمبه يمه لتاړ يم
د پښتون کور يمه هسې هم ويجاړ يم

دا خود سره سر که هر څو راله مات کړي
بيا به هم لکه حُسن لوړ سر ولاړ يم

o

ماله خوب نۀ راځي مدام د اضطراب پۀ غېږ کښې
لکه چې پرخه وي پۀ نمر کښې د ګلاب پۀ غېږ کښې

پښتون مزاج یم د دنیا لۀ حاله نۀ یم خبر
لکه پېزوان ژوندون کوۀمه د نقاب پۀ غېږ کښې

زما پۀ خیال زۀ به د ښادي ورځ خاوند نۀ شمه
داسې چې هر وختې کوۀم ګناه ثواب پۀ غېږ کښې

سوز وو مستي وه د لونګو خوشبوئي خوره وه
دا پۀ رښتیا وو که نۀ پروت ووم د سراب پۀ غېږ کښې

هجرانه خدائے خبر پۀ څۀ دې رانه زړۀ خفه دے؟
دومره څوک نۀ ورکوي هیڅ لۀ عذاب پۀ غېږ کښې

ستا په سرو شونډو خاموشي خوره وه نه ماتیده
د یوې خبرې دې هم رانه کړو جواب په غېږ کښې

تول مېخواران راته پسخېږي سمندره مدام
ښکلي مې نه دي لا پوره لپه شراب په غېږ کښې

★★★

نه مو څه مینه اوکړه نه مو څه سندرې اووې
ژوند لکه بار ګرځوؤ مونږ په خپلو ولو باندې

سپیرې بلا د غربت څه کانې په مونږه اوکړې
مونږ ماشومان قلاروؤ تل په وهلو باندې

O

د څړيکو او لۀ درد نه به نسکور وو پۀ يو وخت کښې
زما نه دا خور شوے زړۀ سم خور وو پۀ يو وخت کښې

دا زړۀ رانه اوس ځکه پۀ نرۍ خبره لوئيږي
نيولے پۀ سينه پورې مې اور وو پۀ يو وخت کښې

پۀ ما به دې پۀ يو نظر کړې سترګې تورې تورې
پۀ تورو تورو سترګو کښې ستا زور وو پۀ يو وخت کښې

زمونږ د کور پۀ خوا کښې به ډېر مات بنګړي پراتۀ وو
زمونږ چې د ګودر پۀ غاړه کور وو پۀ يو وخت کښې

ما دومره د بنګړو د شړنګ پروا چرته کوله
زما به پۀ غوږونو کښې سم شور وو پۀ يو وخت کښې

زما اوس پۀ وږمو پسې ساه خېژي سمندره
زما د ښائستونو نه زړۀ تور وو پۀ يو وخت کښې

o

د ژوند مزه نهٔ وي خمار نهٔ وي
چې خپله خوښه خپل اختیار نهٔ وي

چې پهٔ مقدار زیات وي پهٔ تندر دې شي
پهٔ کوم یو څیز کښې چې معیار نهٔ وي

د هر نظر ځینې پریوتې ښکاري
چې د چا کار نهٔ وي روزګار نهٔ وي

د سړي زړهٔ مات شي د ښکار لهٔ شوق
د ښکار پهٔ ورځو کښې چې ښکار نهٔ وي

د لېونۍ زړهٔ چې خوشحاله نهٔ وي
بیا ښیوه نهٔ کوي سنګار نهٔ وي

چې مئین نهٔ وي حسن وي نیمګړے
چې سوداګر نهٔ وي بازار نهٔ وي

چې تیندکونه ئې خوړلي نهٔ وي
هوښیار به ډېر وي خو هوښیار نهٔ وي

کهٔ زړهٔ ترې غواړې او کهٔ سر ترې غواړې
پهٔ سمندر کښې به انکار نهٔ وي

★★★

خاورې خوړلي د قدم د اخستو پورې مونږ
ځکه خو اوس مونږه د خاورو سره مینه کوؤ

مونږ زلمي شوي د فطرت پهٔ ښکلاګانو کښې یُو
د غرونو خلق یُو د واؤرو سره مینه کوؤ

○

د شوره تنک خو د بنګړو لۀ شرنګه نۀ صبرېږي
حسن پرست زړۀ مې د نُور او رنګه نۀ صبرېږي

کومې کانې نۀ وې چې تا وربانده کړي نۀ دي
خو ستا پاګل لېونے ستا لۀ ځنګه نۀ صبرېږي

کلونه اوشو وينې توئې شوې بيا هم پوهه نۀ شو
څۀ لېوني دي پښتانۀ لۀ جنګه نۀ صبرېږي

څومره مې پوئې کړو نصيحت مې ورته څومره اوکړو
خو مستجاب* ځې د ظالم اورنګه نۀ صبرېږي

ذهن مې نۀ غواړي خو زړۀ مې غواړي ځمه پسې
بيا مې هم زړۀ لۀ هغه ورک بې ننګه نۀ صبرېږي

اوس ئې لونګ او کشمالي د زړۀ نه ويستي دي خو
اوس ستا پۀ غم کښې سمندر لۀ بنګه نۀ صبرېږي

---

* مستجاب مومند

o

شــوكې پــوكې بــې اســرې بربــاد تصــوير دے
ژونــدون څــۀ دے د ارمــان او يــاد تصــوير دے

پښــتونخوا پكښــې رنــګ بنــګ پــۀ وينــو ښــكارې
دا د كــوم فســاد او كــوم جهــاد تصــوير دے؟

تــا څــو ځلــه پــۀ خپــل زړۀ پــورې نيــولے
ځكــه دا زمــا ســپېځلے ښــاد تصــوير دے

پــۀ يــخ ســيورې ورتــه زۀ ولــې خولــه شــوم
دا ســتا څنګــه د اوربــل د بــاد تصــوير دے

شــته كــوترې تــرې الــوځې ســمندره
پـۀ دې كـور كښـې د يـو لـوئے صـياد تصـوير دے

**○**

ذرې ذرې د ژوند پهٔ لار مینه مې ډېره اوکړه
خو بیا هم نهٔ شومه هوښیار مینه مې ډېره اوکړه

کهٔ محبت ګناه وي بیا مې بخښانه ګرانه ده
بیا خو زهٔ ډېر یم ګنهګار مینه مې ډېره اوکړه

چاله مې زړهٔ ورنهٔ کړو کوم یو لهٔ مې ژوند ورنهٔ کړو
کوم یو پرې نهٔ ښودم پهٔ لار مینه مې ډېره اوکړه

پهٔ دغه لږ ژوند کښې مې ډېره خوا خوږي ګټلې
ما ته څوک نهٔ کوي ازار مینه مې ډېره اوکړه

د چا پهٔ شان هسې پهٔ ځان برونه نهٔ دوړوم
چغې وهمه ښهٔ پهٔ جار مینه مې ډېره اوکړه

دغه دنیا ما نه پهٔ دې کښې هم خوشحاله نهٔ ده
ځمه ورخېژمه پهٔ دار مینه مې ډېره اوکړه

زهٔ ورته مینه سمندر هومره پهٔ زړهٔ کښې لرم
بیا مې هم مرګ ته وې تیار مینه مې ډېره اوکړه

★★★

ژوندون خو پهٔ خوشبو کښې دے لونګ ته مې زړهٔ کیږي
موده اوشوه جانانه چې ستا څنګ ته مې زړهٔ کیږي

قدرت مې د جنګ ټکے لهٔ پښوا نه بدي کړے
خو ستا د تورو سترګو سره جنګ ته مې زړهٔ کیږي

o

نيـــت د هـــر يـــو ګلچـــين هســـې خـــاردار دے
چـــې پـــۀ زړۀ کښـــې مـــې د ســـرو ګلونـــو ښـــار دے

ډېـــر مـــې بـــدي شـــي خـــو ځـــومره نصـــيب دار دے
ځـــوک چـــې ســـتا د تـــورو زلفـــو خريـــدار دے

خبـــر شـــوې ئـــې کـــۀ نـــۀ دراز قـــامتې
راپرېـــوتے د چينـــې هاغـــه چنـــار دے

د دنيـــا د قيمتونـــو نـــه بـــالا دے
کـــۀ دې نـــاز دے کـــۀ غـــرور دے کـــۀ خمـــار دے

ځـوک بـه ســتا پـۀ خـوا کښـې ســاه پـۀ زوره واخلـي
ســتا ځـــواني ده ســـتا د مســـتې غـــړۍ وار دے

مـــات بنګـــړي راټولـــوي پـــۀ ګودرونـــو
ســـمندر لېـــونے شـــوے دے اوزګـــار دے

o

خدائے زده چې څۀ به وي خو ښکاري د پښتو کرښې
د زړۀ پۀ زمکه مې راکاږي پۀ ښو کرښې

زۀ ئې حېران دریان کړم زۀ ئې څۀ ته پرې نۀ ښودم
هغې دوه راښکودلې نېغې پۀ لنډو کرښې

فالګره یاره زۀ د خپل قسمت ایمان پېژنم
هسې مې مۀ ګوره د لاسو پۀ تلّو کرښې

د محبت پۀ بام را اوخېژه خورې کړه زلفې
د ګل پۀ پاڼو به راکاږمه تر څو کرښې

ما د جانان تندي ته دومره زیات کتلي دي چې
څکه اوس پېژنم د خلکو پۀ تندو کرښې

چې ئې صفت د حُسن او کړمه په خپل غزل کښې
هغه راکاړي بیا په خپلو اننګو کرښې

هاغه شلغاتي هاغه تکنه غرمه یادوي
چې سمندر چرته کښې وینې په چنو کرښې

★★★

زۀ ستا د حسن اعتراف په هر محفل کښې کوؤم
زۀ ستا د ډېرې بې ننګۍ نه هر ځائے ګام اخلمه

ستا بې روخې راته په هر قدم پېغور راکوي
خو بیا دې هم خومره نامه په احترام اخلمه

o

پــهٔ هــوا تلــې خــو پــهٔ پښــو پســې پــهٔ ورکــه ګــرځم
د کــوه قــاف پــهٔ ښــاپېرو پســې پــهٔ ورکــه ګــرځم

خــدائے خــو دې ســتا د مــخ نــه اور پــهٔ زلفــو اولګــوي
چــې مــازیګر شــي پــهٔ لوګــو پســې پــهٔ ورکــه ګــرځم

څــوک مــې دې نــهٔ ځــي پــهٔ پخــو پخــو خبــرو پســې
اوس هــم اکثــر پــهٔ لولکــو پســې پــهٔ ورکــه ګــرځم

ډېــره مــوده اوشــوه چــې ورکــه ده زمــا ښــاپېرۍ
ځکــه خــو زهٔ پــهٔ کشــمالو پســې پــهٔ ورکــه ګــرځم

څــوک چــې پښــتو وائــي پښــتو لیکــي پښــتو هــم کــوي
مــدام پــهٔ هغــې پښــتنو پســې پــهٔ ورکــه ګــرځم

ستا لوپټه زما په ذهن خوره شوې داسې
ثابته شپه اورورکو پسې په ورکه ګرځم

زۀ سمندر د خپله شوره هم تنګ شوے يمه
خو ستا د لېچو په بنګړو پسې په ورکه ګرځم

★ ★ ★

زما د مئين زړۀ لۀ حاله يو خدائے خبر وو
چې تا د ائينې سره په ځان لوبې کولې

اوس خوارو قسمتونو په اما په کما ورک کړو
په واؤرو به يو ځائے ما او جانان لوبې کولې

٥

خود به لرمه خدایه دغسې په دار ځواني
چې لونګین مزاج لري هغه چنار ځواني

زړګیه ګرم نه یم لرمه که تار تار ګرېوان
ځکه چې هر وخت یادؤم هاغه ناتار ځواني

دنیا ته نه ګوري څه بل شان په نشه کښې ګرځي
د پښتنو وي همېشه داسې خمار ځواني

بیا به دا للمې هم ښېرازه شي په سرو ګلونو
خو دي وطن له د فرهاد په شان پکار ځواني

شور په سینه کښې سمندر لرم خاموشه یمه
د زړه په شر مې اړوي هغه شاتار ځواني

O

سترګې بیا سرې د رقیب دي
اندازې د بل صلیب دي

چې په زړونو کښې اوسېږي
ښکلي څومره خوش نصیب دي

دا ستا زلفې ورانې شوې
خدائیګو څۀ په ښۀ ترتیب دي

د ازغو په څوکو ګل ته
نغمې ویلې عندلیب دي

زۀ به مرم د زړۀ لۀ درده
دا خیالونه د طبیب دي

خدائے به راکړي سمندره
چې زما څۀ په نصیب دي

o

ستا د خورو زلفو په سیوري مرور اوده یم
خوب رانه اوتښتوه یاره زورور اوده یم

که ته د پرخې په شان خوب د ګل په پاڼو کوې
زه ګورے هم د خپل ارمان د زړه په سر اوده یم

د کبرژنې ګوري ونې لاندې خوب نه راځي
زه د خلوص بې پاڼو ونې ته په نمر اوده یم

چې د نظر نرمه توده غېږه راتاؤ کړې له ما
بیا د لمحو په حساب یاره څومره زر اوده یم

په مور مې هسې په کټوی کښې کاڼي مه خوټکوه
باده ما ویښ نه کړې ماشوم یمه نهر اوده یم

یا مې پۀ کاڼي ووله یا بنګړو لۀ شړنګ ورکوه
زۀ هسې بت ناست یمه زۀ ګورے اکثر اودۀ یم

ددې وطن لۀ بدامنۍ نه اندازه لګوه
چې پۀ خپل کور کښې هم څۀ بل شانې اوتر اودۀ یم

د نظر تاؤ دې خولۀ لا سمه لګولې نۀ ده
چپې چپې نۀ یمه غلے سمندر اودۀ یم

★ ★ ★

دا نۀ چې زور او زر لېونے کړے د وختونو
خو هسې لېونے د خپل ارمان سره ګنېږي

تپوس د چا نه مۀ کوه هم دغه سمندر دے
چې څوک چرته کښې هسې د خپل ځان سره ګنېږي

o

رنګونــه پــۀ هــر لــور مــې رنــګ پــۀ رنــګ پــۀ تــا شــيندل
پــۀ خــوب کښــې مــې ثابتــه شــپه لونــګ پــۀ تــا شــيندل

ملنــګ ووم تــۀ راتــې وې خــو زمــا زړۀ د بادشــاه وو
ګلونــه مــې بلهــا د خپــل قلنــګ پــۀ تــا شــيندل

مــا امــن پښــتونخوا ســتا پــۀ ســالو شــيندو پــۀ مينــه
ناترســو نفرتونــه چــې د جنــګ پــۀ تــا شــيندل

پښــتون يمــه د پــت د فلســفې ځينــې خبــر يــم
ببګــا مــې ځکــه ســتوري ټــول د ننــګ پــۀ تــا شــيندل

پښــتون وے ســمندره تــر اخــره مغــل نــۀ شــوے
هــر څــو کــۀ ســرۀ او ســپين هســې اورنــګ پــۀ تــا شــيندل

○

چې خپل زړۀ راته راياد شي
ستا بانه ۀ راته راياد شي

بيا مې ستا سترګې ياد پړي
چې رانجه ۀ راته راياد شي

چې دې غرونو ته مې پام شي
ښتانۀ راته راياد شي

د انکار نه مې زړۀ تور شي
چې ستا نۀ راته راياد شي

چې د بنګو ذکر اوشي
ستا کاته ۀ راته راياد شي

ستا د پنجو په سرونو
تله ۀ راته راياد شي

یو دم هر څۀ رانه هېرشي
چې هر څۀ راته رایاد شي

پۀ خپل زړۀ باندې لاس ږدمه
چې څوک غلۀ راته رایاد شي

پۀ ورو ورو خبرو
لوئې وارۀ راته رایاد شي

سمندر چې چې شي
چې هغۀ راته رایاد شي

★★★

ستا مینه لېونی څۀ وه خو تش د خوب لیدۀ وو
غمونه مې پۀ زړۀ هسې دلی دلی پراتۀ وو

ماښام چې سملاستم سترګې مې ډکې وې د اوښکو
سحر چې پاڅېدم بانۀ مې هغسې لامدۀ وو

o

د غــــرۀ لمنـــــه شـــــنې اوبـــۀ اورونــــــه زيــــړې پـــــانړې
پــۀ خــوب کښــې وينمــه ســتا ســرۀ لاســونه زيــړې پــانړې

ســــتا د اوربـــــل د هـــــوا لــــړه چپــــۀ هـــم نـــۀ زغمــــي
زمــــا د ژونـــــد د ونــــې شــــنۀ ښـــاخونه زيـــــړې پـــــانړې

ســــتا ګلبــدن لــري پــۀ يــو موســم کښـــې دوه موســـمه
پــــۀ لوپټــــه دي ســــــتا اووۀ رنګونــــــه زيـــــړې پــــانړې

خدايه پـۀ خپـل هـر کلي پـوئې نـۀ يـم چـې څـۀ رنګـه دے
ماتــــه پــــۀ غــــاړه کــــړي اوړدۀ هارونــــه زيـــــړې پــــانړې

زمـــا لـــۀ هـــرې څــــانګې اوچــــې پـــانړې اوريژيـــدې
کـــوي پـــۀ يـــخ ســـبوري خـــوارۀ خوبونـــه زيـــړې پـــانړې

د خپلـــې میـنـــې زور نصـــاب مـــې بـــدل کـــړے نـــۀ دے
لولمـــــه تولـــــه شــــپه زارۀ بابونـــــه زیـــــړې پـــــاڼې

د ســــــمندر غــــــاړه چینــــــې او چنارونـــــه ســــیورې
رایــــادوي راتــــــه هغــــــه یادونــــــه زیــــــړې پــــــاڼې

★★★

لکــــه ګــرد و غبــــار تېــر نـــۀ شـــمه هســـې
چـــې د خپـــل ارمـــان یـــو څلـــے درتـــه پرېـــږدم

چـــې زمـــا ســـبورے پـــۀ کـــاڼو پکښـــې اوولـــې
ښـــۀ بـــه دا وي چـــې دا کلـــے درتـــه پرېـــږدم

O

د مينې محبت او د دلدار خبرې داسې
زۀ څۀ وومه خبر چې وي د ښار خبرې داسې

خفه کړي ځان پۀ چل ول بهانه کړي ځانله جوړه
څوک نۀ کوي جانانه د انکار خبرې داسې

هغه لکه سندره نۀ ورکيږي لا شتۀ کيږي
چې چا کړي تر اوسه پۀ معيار خبرې داسې

يوه شپه هم خوب نۀ راځي بې ستا لۀ تصوره
کولې به هغې ماته پۀ لار خبرې داسې

خبرې خلق ستا پۀ شانې نۀ کوي بې واره
کوي خلق زما پۀ شان پۀ وار خبرې داسې

بيا مونږ لکه نشه کړې وه مونږ وو پۀ سرور کښې
مونږ کړې وې يو بل ته پۀ خمار خبرې داسې

زما شمله به جګه وي هم دغسې تر عمره
ما ستا سره دي کړي پۀ اعتبار خبرې داسې

ما اووې زمونږ څوک دي پۀ دنيا کښې بې لۀ يو بل
هغې اووې کوه مره د کار خبرې داسې

چې زړۀ ئې د جذباتو سمندر پۀ مخه واخلي
بيا خامخا خو وي به د فنکار خبرې داسې

★★★

غرونه چينې او چنارونه هم خبرې کوي
زما او ستا پۀ سر ګلونه هم خبرې کوي

چې زمونږ مينه پۀ هر لور لکه خوشبو خوره شوه
اوس ئې منم چې ديوالونه هم خبرې کوي

o

دا زمـــــا او د هغـــــــې خبــــرې نــــــهٔ دي
دا خبــــرې خـــو د خـــولې خبــرې نـــهٔ دي

دې خبـــرو خـــو زهٔ وېســـتے يـــم لـــهٔ كـــاره
دا پســـــتې پســـــتې خـــوږې خبـــرې نـــهٔ دي

چـــې بيـــا ډېـــره مـــوده زړونـــه زمـــونږ تـــش وي
ټولـــه شـــپه غـــوا ړې دوه درې خبـــرې نـــهٔ دي

دا زمـــــا د وينـــــې وينـــــې زړهٔ زبيرګـــــې دي
دا ســـــندرې دي دغـــــې خبـــــرې نـــــهٔ دي

مـنګے كـوز كـړه اوښـكې اوچـې كـړه پـهٔ پيڅكـې
راځـــه كـــور تـــه د كـــوڅې خبـــرې نـــهٔ دي

چـــې زمـــا د قـــام ښـــېګړه پكښـــې نـــهٔ وي
دا زمــــا د نظريـــــــې خبـــــرې نـــــهٔ دي

O

دا بیا د غـرۀ پـۀ سر سـپینه سـپوږمۍ وه راختلې
کــۀ نــۀ د بــام پــۀ ســر بیــا لېــونۍ وه راختلــې

زمـــا پـــۀ زړۀ لښــکرې د مغلـــو راخـــورې وې
چې سـتا پـۀ ګلابـي رخسـار سـپینکۍ وه راختلـې

یـو دم بـه کلـه شـنه شـوه کلـه سـرۀ شـوه کلـه زیـړه
نــن بیــا ئــې لــوپټې تــه ســرۀ مچــۍ وه راختلــې

زمـا نـه بـه لا څـوک د امـن لـوئې علمبـردار وي
ورغـــوي تـــه زمـــا چـــې لـــولکۍ وه راختلـــې

د خلقـو سـمندره سـترګې خـړې وې خـو چـپ وو
کـــوتره چـــې زمـــونږه پـــۀ بلـــۍ وه راختلـــې

o

منګـــولې مرورمــــه زاړۀ وختونـــه چرتــــه راځــــي
پــــۀ ځــان مئينـــه شــوه خــوارۀ لاســونه چرتــه راځــي

ســترګې مــې ســرې شــي سـترغلي راباندې اوپړســيږي
ځوانــه ځــواني ده خــو خــوارۀ خوبونــه چرتــه راځــي

هغـــې وئيـــل تـــۀ خـــو لا هغســـې پـــۀ زمكـــه ګرځـــې
مـــا ورتـــه وې مـــا لـــۀ هغـــه چلونـــه چرتـــه راځـــي

اوس كۀ راځي نو هم پۀ سترګو كښې ئې ډنډ اوښكې وي
هغســـې ســـرې شـــونډې او ســـرۀ لاســـونه چرتـــه راځـــي

د يـــاد پـــۀ ژړې ســـرې ســـترګې ناســـت يـــم ســـمندر هغســـې
بـــې ننګـــه ســـتا د ښېلتانـــۀ بندونـــه چرتـــه راځـــي

O

تپې د ژوند پـه هـره پوله پـه پښتو کېږي کـوږ
خـو محبـت پـه اشـارو او کنـایو کېږي کـوږ

پـه هېڅ قیمت د خپـل عظمت ښـلات تـه نـهٔ جوړیږو
اور ورکـې يُـو رڼاګـانې پـه تیـارو کېږي کـوږ

محفل کـهٔ تـود شي خـو اثـر پـهٔ مـونږه نـهٔ پرېباسي
مـونږه بلهـا بلهـا خبـرې پـه ښـو کېږي کـوږ

د ښائستونو پلوئونـه مـو لا پرېښي نـهٔ دي
کـهٔ ډېـره هـم زنـدګي مـونږه پـهٔ لمبـو کېږي کـوږ

تـودې جـذبې لـرو لـهٔ اور ژوندونـه نـهٔ ویرېږو
مـونږ خـو ورخـاړي يُـو ګلونـه پـهٔ غرمـو کېږي کـوږ

اوس ئې هـم هـره شـپه پـهٔ خـوب کېږي سـمندره ویـنم
هغسې اوس هـم پټ پټـونې پـهٔ کوڅـو کېږي کـوږ

O

ماښــام وي ســندریز د اداګــانو پــهٔ ګاونــډ کښــې
ګــډیږي جینکــۍ د ښــکلاګانو پــهٔ ګاونــډ کښــې

د زلفــو لــهٔ هــر تــاره ئــې خوشــبو د ګــلاب خېــژي
اوســیږي لېــونۍ د خوشــبوګانو پــهٔ ګاونــډ کښــې

پــهٔ شونډو بــه مــو هــر وختــې نــرۍ مســکا خــوره وه
چې مــونږ بــه اوســېدو د خنداګانو پــهٔ ګاونــډ کښــې

د خلقــو لــهٔ خبــرو او چــا وې مــا وې د لاســه
خنــدا مــخ پټــوي د ژړاګــانو پــهٔ ګاونــډ کښــې

لــهٔ مخــه ئــې رڼــا د څوارلســمې ســپوږمۍ خېــژي
اوســیږي هغــه اوس د رڼاګــانو پــهٔ ګاونــډ کښــې

O

مـا تبـر کـړو پـۀ ژړا مـازيګرے د چنـار لانـدې
چينـه اوچـه وه مـات پـروت وو مـنګے د چنـار لانـدې

مـا ځـۀ سـتا نـوم لـيکلے د ے پـۀ خپلـو رڼـو اوښـکو
چـې ځـي پـۀ لار اودريـږي هـر سـړے د چنـار لانـدې

مـا وې چـې دا پـۀ ځـۀ بانـدې بـې کـوره ده اوتـره
ورک شـوے لـۀ هغـې وو مـېخکے د چنـار لانـدې

دا بيـا ځـۀ بـې قـراره د ے د چـا پـۀ انتظـار د ے
ځملـي کلـه پـاځي يـو لېـونے د چنـار لانـدې

يـو ورځ وې هغـې زلفـې خـورې کـړې سـمندره
ورمـې وې تـا بـه وې تـود د ے سـپرلے د چنـار لانـدې

o

تلــو تــه ئــې زړۀ نشــته خوشــحاله دي پاخــۀ دېــره دي
د کــوه قــاف ښــا پيري تهــول زمــا پــۀ زړۀ دېــره دي

د کــومې خــاورې کــانې بــوتې چــې ســرۀ زر ښــکارېږي
پـــۀ هاغـــه خـــاوره بدقســـمته پښـــتانۀ دېـــره دي

بــلا دې واخلــم ســتا د ســترګو بــلا ځنګــه واخلــم
پــۀ تــورو ســترګو دې لښــکر لښــکر بانهــۀ دېــره دي

د شـــوګيرو ډيـــوې بليـــږي د ناوختـــه پـــورې
بلهـــا يادونـــه د ارمـــان پـــۀ اديـــره دېـــره دي

خپلـــو نشـــو او تماشـــو کښـــې ســـمندره ډوب دي
زمــونږ پــۀ کلــي کښــې ځــۀ بــل شــانې کانهــۀ دېــره دي

o

ژاړه مـۀ مـا پـۀ خندا بېګـا پـۀ خـوب کښې
تـۀ ليـدلې وې رښـتيا بېګـا پـۀ خـوب کښې

دا چـې اوس مـې دواړه سـترګې تکـې سـرې دي
دا مـې کـړې وه ژړا بېګـا پـۀ خـوب کښې

راشـه اوس خلـق د کـور راپـورې خانـدي
نـوم مـې بيـا اخسـتے سـتا بېګـا پـۀ خـوب کښې

خپـل ارمـان وومـه نيـولے لـۀ ګرېوانـه
حضـور شـوے وو پـۀ مـا بېګـا پـۀ خـوب کښې

قـاتلان مـې نـاخبره وو منکـر وو
بيـا وژلے وومـه چـا بېګـا پـۀ خـوب کښې

ستړګې مـــهٔ پټــوه ســـتړګې کــړه راپورتـــه
ستړګې لګـي مـو سـبا بېګـا پــهٔ خــوب کښـې

نــور بــه څـــهٔ وايمـــه مـــړې خـــو ســـپوږمۍ وې
مـــخ کولــــه دې رڼـــا بېګـــا پــــهٔ خـــوب کښــــې

د دنيــــا نــــه خبـــــر نـــــهٔ ووم ســــــمندره
مــــا ليـــدلې وه دنيـــا بېګاپـــهٔ خـــوب کښــــې

★★★

مـا ځـان خـرڅ کـړے نـهٔ دے زهٔ سـوداګري نـهٔ کـوؤم
ځکـه خـو زهٔ پـهٔ لـوړو خلقـو کښـې هـم دنـګ ګرځمـه

دوارہ د يــو بابـا بچـي يُـو خـو پـهٔ يـو کالـهٔ کښـې
تـهٔ پکښـې خـان ګرځې او زهٔ پکښـې ملنـګ ګرځمـه

o

هسې تېره شوه زما په خوا درازه
لکه زرکه چې په ويره ځي له بازه

د هغې پرې څه که غم دے خو زما دے
لوپټه سمه کړي تېره شي له نازه

تورې سترګې سپينه غاړه ګُورې زلفې
هسې نه ده په همزولو کښې ممتازه

که دې نور څه راته اووې غريو مې نيسي
ښه ښکاره پته مې لګي له اوازه

که ياران که رقيبان دي واړه يو دي
سمندره ښه خبر يمه له رازه

o

ډکې منګولې برنډې سترګې په خندا کښې لاړه
غلا له راغلې وه د شپې خو په رڼا کښې لاړه

په مرګ ئې نۀ يم خو خفه يمه په دې خبره
چې زما روڼه په کوم تور کومه ګناه کښې لاړه

څنګه به خوب ورشي زما لۀ تصوره بغېر
خو لېونۍ وه پوهه نۀ شوه په هوا کښې لاړه

بيا ئې زما د بې قراره زړۀ درزا واؤريده
بيا مې د خوا نه غريو نيولې په سودا کښې لاړه

هغه ئې خپل جوړ دے کۀ وروستو سمندره ژاړې
اوس مې د خوا نه ښۀ په ناز او په ادا کښې لاړه

O

څــومره نــا زړۀ پــۀ زړور ښــار کښـــې پــۀ ویــره ګــرځم
خدایــه پــۀ ګــل ګــل پېښــور ښــار کښــې پــۀ ویــره ګــرځم

زمــا پــۀ ذهــن او پــۀ زړۀ بانــدې راخــور چــې بــه وو
زۀ اوس پــۀ هغــه جــادوګر ښــار کښـــې پــۀ ویــره ګــرځم

مــور مــې وې مــۀ ځــه څــو راغلــے یــم چــې لــوئے ســړے شــم
مــور راتــه یــاده شــي اکثــر ښــار کښــې پــۀ ویــره ګــرځم

د مـــــازیګر هغـــه شــــوخي او مســــتي نــــۀ وینمــــه
د زړۀ پــۀ زور هــر مــازیګر ښــار کښـــې پــۀ ویــره ګــرځم

زمـــا د خـــاورې او وطـــن د بقـــا ســـوال دے ګنـــي
دا هم څۀ ژونـد دے چې اوتـر ښـار کښـې پـۀ ویـره ګـرځم

دا مــې بــاور دے چــې دا تــوره شــپه بــه ســپینه ورځ شــي
زۀ بــه تــر کــومې ســمندر ښــار کښـــې پــۀ ویــره ګــرځم

○

پـهٔ خپـل زړګـي پـهٔ خپـل ارمـان بانـدې مـې زړهٔ اوسـوزي
چـې ځـان تـه اوګـورم پـهٔ ځـان بانـدې مـې زړهٔ اوسـوزي

هغـــه هـــم نشـــته چـــې ئـــې اوګنـــډي د زلفـــو پـــهٔ تـــار
پـهٔ خپـل ريښـې ريښـې ګرېـوان بانـدې مـې زړهٔ اوسـوزي

مـــا ډېـــر ژړلـــي ځکـــه هـــر څـــهٔ راتـــه اوښـــکې ښـــکاري
بـاران چـې راشـي پـهٔ اسـمان بانـدې مـې زړهٔ اوسـوزي

ښـــکلي چـــې راشـــي د زړګـــي درزا دې يـــو پـــهٔ دوه شـــي
شـېخه رښـتيا سـتا پـهٔ ايمـان بانـدې مـې زړهٔ اوسـوزي

هغـــه غريـــب ئـــې ســـمندره پـــهٔ چـــل نـــهٔ پـــوهېږي
درد چـې راخـور شـي پـهٔ درمـان بانـدې مـې زړهٔ اوسـوزي

○

دا چې خوارۀ خوارۀ مسکي کاتۀ جانان کوي
زړۀ به مې خود وروسپې عمر لۀ ارمان کوي

دا به اورونه لګوي لېونۍ شوې به وي
ددې دپاسه چې کانې نورې پۀ ځان کوي

زما پۀ زړۀ باندې يو دم توره تيارۀ راولي
چې پۀ دې ښار کښې د ټوپکو ځوک دوکان کوي

خدائے به دا لارې کوځې دغسې ابادې ساتي
چې وخت نا وخت پکښې شلغاتې ماشومان کوي

ستا د راتلو پۀ انتظار د کوځې ور ته ګورم
چې اوازونه پۀ بلې باندې مارغان کوي

زمــونږ د ټولــو لېونــو زړونــه بــه مــات وي مــدام
چـــې ادا ګـــانې هـــره ورځ د ګـــل پـــهٔ شـــان کـــوي

څـهٔ پـهٔ وحشـي وخـت کښـې پـېـدا یُـو سـمندره مـونږه
عجیبــه لــوبې یــو انســـان پـــهٔ بـــل انســـان کـــوي

★★★

پـــهٔ شـــاړو ســـر شـــمه یـــو دم جانانـــه ښـــار پریږدمـــه
چـــې تصـــور دې راشـــي زړهٔ اونیســـم کـــار پریږدمـــه

اوس رانـــه هاغـــه لېونتـــوب ووتـــے د لارو نیـــوؤ
ښـــا پیرۍ ډلـــې راشـــي ورتـــه لار پریږدمـــه

o

چې د ګلونو په سرونو ګډېدې لولکۍ
بيا مې په زړۀ ثابته شپه راورېدې لولکۍ

زۀ ژوند پرست يمه په ژوند باندې خپل سر ورکوؤم
هغه خو بيل وخت وو چې ما به رانيوې لولکۍ

لکه چې ما هډو په ژوند کښې بل کار کړے نۀ وو
دومره زما د کتابونو الوتې لولکۍ

په تنهايۍ کښې مې په ځان باندې سم زړۀ اوسوزي
هغه هم وخت وو چې به خوا له مې راتلې لولکۍ

ما تکے خوب هم په غرمه کښې چرته کړے نۀ دے
ثابته ورځ به مې په بوټو کښې کتې لولکۍ

زۀ خــو باچــا وومــه زمــا ځانلــه دنیــا وه بیلــه
پــهٔ لولکــو کښــې بــه زمــا نــهٔ خوښــیدې لــولکۍ

ځــان بــه مــې غلــے کــړو یــو دم بــه مــې تــرې پاســولې
زمــا پــهٔ خــوا کښــې ســمندر چــې رانیــوې لــولکۍ

★★★

زړۀ مــې درز اوکــړې یــو دم راتــه رایــاد شــي
چــې ګــل اووینمــه ســم راتــه رایــاد شــي

چــې مــې پرخــې یــا وریځــې پــهٔ نظــر شــي
غریــو مــې اونیســي خپــل غــم راتــه رایــاد شــي

○

نـۀ چرتــه شــور شــته د ے نــۀ چرتــه کښــې ښــکالو خېــژي
خــو پــۀ غوربـونــو کښــې مــې شــرنګ ســتا د بنګــړو خېــژي

پــرون مــې څــۀ وو پــۀ شــمله کښــې کشــمالي ټــومبلي
راغلـــه د تـــاوه نـــن پـــۀ هغـــه کشـــمالو خېـــژي

تبــه دې هــم نشـــته د ے واؤره هــم پــۀ کلــي اوشــوه
دا دومــــره اور دې ولــــې بیــــا د اننګــــو خېــــژي

خدائے دې ئـې چرې هـم پـۀ پښـو کښـې غنـې مـاتې نـۀ کـړي
خېــر د ے کــۀ عمــر لــۀ زمــونږه پــۀ زړګــو خېــژي

چــې شــپه شــي څــوک ورســره خولــۀ هــم ګــډولے نــۀ شــي
تـــۀ بـــه وې ټولـــه ورځـــې دا پـــۀ مرچکـــو خېـــژي

زړۀ تــه مــې اوګــوره حصــار شــه چــې قــدم وانــۀ خلــې
خــون بـه مـې واخلـې ګـورے سـاه مـې سـتا پـۀ تلـو خېـژي

غرونــه بــه راؤړي د لونګــو نــه دې څــۀ جــوړ کــړي
ســتا ســمندر خــو ســتا دپــاره پــۀ لمبــو خېــژي

★★★

مــونږ پــۀ يــو بــل زړونــه پخــوا بېللــي ځانلــه ځانلــه
خــو فرښــتو زمــونږ نــامې ليکلــي ځانلــه ځانلــه

مــونږه د يــو بــل اوښــکې چرتــه اوچــې کــړې نــۀ دي
مــونږ پــۀ يــو بــل پســې مــدام ژړلــي ځانلــه ځانلــه

O

پـۀ جي قربـان او پـۀ ځـار ځـار وړپسـې شـوے نـۀ يـم
خـاورې بـادوم خـو پـۀ بـادار وړپسـې شـوے نـۀ يـم

داسـې کـوم کـار دے چې مـا سـر تـه رسـولے نـۀ دے
هاغـه بـه وي چې پـۀ کـوم کـار وړپسـې شـوے نـۀ يـم

کـم عقـل نـۀ يـم چې خپـل زور پـۀ خپـل ټوپـک اوولـم
شـعور لرمـه پـۀ اغيـار وړپسـې شـوے نـۀ يـم

د چـا نـه وروسـتو پـۀ تلـو ځـان راتـه ډېر بـدي ښـکاري
خـو داسـې نـۀ ده چې پـۀ يـار وړپسـې شـوے نـۀ يـم

حـورې مـې خوښـې دي غلمـان مـې هـم پـۀ زړۀ وريـږي
خـو د جنـت پـۀ ټېکيـدار وړپسـې شـوے نـۀ يـم

زۀ د معيـار قائـل يـم زۀ څـۀ لېـونے خـو نـۀ يـم
د چـا پـۀ شـانې پـۀ مقـدار وړپسـې شـوے نـۀ يـم

داسې هم نۀ ده چې مرۍ پۀ خپله پرې لۀ وړم
زۀ ژوند پرست يمه پۀ دار ورپسې شوے نۀ يم

لا مې دې سترګو ته کتلي زړۀ مې وار نۀ کوي
لا دې د حُسن پۀ بازار ورپسې شوے نۀ يم

لۀ خدايه غواړم سمندر خپل نازولے جانان
زۀ پۀ زيارت او پۀ دربار ورپسې شوے نۀ يم

★★★

چې محبت ته بېخي اووائي روزګار سړے
ژوند خو هم دا وي چې زخمونه کړي راپار سړے

چې ستا د لاسه وي شل ځله مې مرګے قبول دے
دلته کښې هسې هم څوک نۀ پربږدي د کار سړے

o

دا ځکه خو دي سترګې راپسې پۀ لېونتوب کښې
رښتيا رښتيا وئيلي وو هغې پۀ لېونتوب کښې

ستا نوم واخلمه چغې کړم د زړۀ لۀ درده تاؤ شم
څۀ چل کيږي پۀ ما هسې د شپې پۀ لېونتوب کښې

چې روغ شمه نو ماتې کړمه تولې پۀ يو وخت کښې
ويستلې چې مې څومره وي توبې پۀ لېونتوب کښې

ښۀ اوخاندمه اوژاړمه سترې شم اودۀ شم
د کار خبرې اوکړمه دوه درې پۀ لېونتوب کښې

بنګړي به ئې هم مات کړۀ د خندا نه به هم شنه شوه
شلولې لېونۍ به لوپټې پۀ لېونتوب کښې

د مينــــې د هـــر درد لـــۀ زوره زۀ يـــم خبـــر شـــوے
ليــدلي دي مـــا تــولې جزيـــرې پـــۀ لېونتـــوب كښـــې

رايـاد چې شي دا غـونے پـۀ مـا هغسې زيـګ زيـګ شي
كــولې لېــونىِ ځــان تــه ښـېرې پــۀ لېونتــوب كښــې

د چـــا ورســـره غـــم نـــۀ وي د خپـــل زړۀ لـــۀ خـــاطره
اكثـــر وي ســـمندر چپـــې چپـــې پـــۀ لېونتـــوب كښـــې

✶✶✶

تـــا پـــۀ خپـــل حســـن كـــړه بلهـــا بلهـــا مېشـــتۀ رنګونـــه
زمـــا نـــه اوتښـــتېدل يـــاره هغـــه شـــتۀ رنګونـــه

تـۀ پــۀ ځــان څــۀ پوهېــدې تــۀ د څــۀ نــه څــۀ خبــر وے
د ښائســـتونو د رشـــې نـــه دې نوســـتۀ رنګونـــه

o

اسمان ته مۀ ګوره اشنا کوه نظر پۀ زمکه
ستا هر قدم ته غوږۀ مه خپل ځيګر پۀ زمکه

زلفې دې نۀ دي خو وريځې دي راتولې ئې کړه
مودې شوې تيرې لګېدلے نۀ دے نمر پۀ زمکه

خپل لېوني باهۀ دې نور زما پۀ زړۀ مۀ کړه
پښتانۀ چرې هم څۀ نۀ کري د شر پۀ زمکه

د زړۀ کالۀ مې داسې وران داسې رنګ شوے پروت دے
داسې به نۀ وي پۀ دنيا کښې وران کنډر پۀ زمکه

زۀ هره شپه لېونی تا هسې پۀ خوب کښې وينم
زۀ جوړومه ستا تصوير اوس هر سحر پۀ زمکه

سـپوږمۍ خفـه ده نـن ئـې بيـا لکـه چـې تنـدر نيسـي
چـا غــورزولې دے يــو ګــل چرتــه پاســتر* پــۀ زمکــه

خــوږه بــه وي خــو دومــره هــم نــۀ ده زمــا پــۀ نظــر
عجيبــه خلــق دي يــو بــل وژنــي اکثــر پــۀ زمکــه

پــۀ ځــان ئــې بيــا تــول نــاخبره کلـے بيــا خبــر کــړو
چــا ورتــه اووې رالوېــدلے ســمندر پــۀ زمکــه

★★★

سـترګې مـې سرې ګونـه مـې زيـړه او زړګـے مـې شـين شو
راشــه کنــه ســتا جــدائي رابانــدې څــۀ اونــۀ کــړۀ

تــورو پــۀ لاس ډېــرو لښــکرو زمــا هــېڅ اونــۀ کــړۀ
خــو پــۀ تــش لاس دې لېــونۍ رابانــدې څــۀ اونــۀ کــړۀ

---

* پـۀ اسـتر

o

پــهٔ شــا دې ډېــر كاتــهٔ خــو تلــې مــا تــه دې ولــې نــهٔ وې
دا تــهٔ چــې داســې وركيــدې مــا تــه دې ولــې نــهٔ وې

زمـــا د زړهٔ د ربـــاب ټـــول تارونـــه شـــوكي پـــوكي
تـــهٔ چـــې پـــهٔ مـــا مئينېـــدې ماتـــه دې ولـــې نـــهٔ وې

دا ماتېــدے هــم شــي مــا داســې توبــه نــهٔ ده ويســتې
تــهٔ چــې راتلــې تــر مېكــدې مــا تــه دې ولــې نــهٔ وې

زهٔ ســـــتا د زلفـــــو د لوګـــــو د زوره څـــــهٔ خبـــــر ووم
پــهٔ مــا دې پــورې كــړې لمبــې ماتــه دې ولــې نــهٔ وې

کۀ نور څۀ نۀ وے نو ستا غم به مې ژړلے خو وے
هسې هم یم خاورې ایرې ماته دې ولې نۀ وې

ما به هم سر درښکاره کړے د دیوال پۀ سر وو
چې تۀ بلې تۀ راختې ماته دې ولې نۀ وې

پۀ لاسولے چې دې نۀ شوه ماتول دې څۀ لۀ
بنګړي دې کړۀ ذرې ذرې ماته دې ولې نۀ وې

د زړۀ پۀ دشتو مې سیلۍ د بېلتانۀ الوځي
لکه خوشبو چې خوربدې ماته دې ولې نۀ وې

تا خو د مینې سمندر پۀ زړۀ کښې پټ ګرځوۀ
زۀ څۀ خبر وومه پۀ دې ماته دې ولې نۀ وې

o

جنګ دې پـهٔ تنـدر شـي د چـا سـره سـیالۍ نـهٔ کـوؤم
ځکـــه خـــو زهٔ د ګانـــډیچرو ګړدنـــۍ نـــهٔ کـــوؤم

یــوه لحظــه نــهٔ وي چــې فکــر ســتا د شــال نــهٔ کــوؤم
یـــوه لحظـــه مـــې هـــم زهٔ فکـــر د شـــړۍ نـــهٔ کـــوؤم

ســتا د راتلــو هــېڅ درک نــهٔ لګــي بــې لوظــه یــاره
تــهٔ دروغــژن ئــې خــو بــاور مــې پــهٔ ګــړۍ نــهٔ کــوؤم

د زړهٔ زخمونــه مــې ګنــډل غــواړي روفــې دي
خو سود مې نهٔ کېږي ټک کار پهٔ شین خالۍ نهٔ کوؤم

زمـــا لالـــے پـــۀ دهماكـــه الـــوتے مـــړ دے خدايـــه
زۀ خپلـــو مـــړو ســـترګو لـــۀ اوس هـــڼو لكـــى نـــۀ كـــوؤم

زۀ پـــۀ قبرونـــو كنســـتو يمـــه د خپلـــو ورونـــو
زۀ نـــا اوزګـــاره يمـــه غـــم د نـــوكرى نـــۀ كـــوؤم

تـــۀ بـــه مـــاتم كـــوې پـــۀ خپلـــو تـــاريخي ورځـــو كښـــې
داســـې شـــپه نـــۀ وي چـــې مـــاتم پـــۀ جـــدايى نـــۀ كـــوؤم

پـــۀ تـــا شـــيندم خپلـــه ځـــواني د ســـرو ګلونـــو پـــۀ شـــان
زۀ ســـمندر يـــم هـــېڅ پـــرواه د زنـــدګى نـــۀ كـــوؤم

o

د ځانــــه ورکـــې ښائســــتونه مـــې پـــهٔ تـــا ســـود شـــي
ددې جهــــان واړه ګلونـــــه مـــــې پـــهٔ تـــا ســـود شـــي

زمـــا دا ســــترګې دې ړنــدې شـــي پـــهٔ خوبونـــو پســـې
خــو ټــول خــوارهٔ خــوارهٔ خوبونــه مــې پــهٔ تــا ســود شــي

دومــــره ده شـــوخه د خنــــدا ځانلـــه بهـــانې لټـــوي
نـــن ئـــې وئيـــل چـــې تيندکونــه مــې پــهٔ تــا ســود شـــي

خبـر كـهٔ مـې رنـګ اوځـي د ژونـد او د ځـوانۍ نـه يـاره
خـــو د بـــوډۍ د ټـــال رنګونـــه مـــې پـــهٔ تـــا ســـود شـــي

زهٔ لكـــه ســـر وه يـــم پـــهٔ ځـــان مـــې قامتونـــه ســـود شـــي
تـــهٔ ســــمندر ئـــې طوفانونـــه مـــې پـــهٔ تـــا ســـود شـــي

o

چې ټـــومبلې یــــار ګـــلاب پــــهٔ اوربالــــهٔ د ے
تـــهٔ بــــه وائـــې چـــې زمــــا زړهٔ پــــهٔ شـــپالهٔ د ے

د ککـــــو اســــمان مــــې هغســــې وریـــــږي
د زړګــــي دالان مــــې ټـــول اوبـــــهٔ اوبــــهٔ د ے

د روزګـــار غــم خــو مــې ښــهٔ شــوه لاړو غــوځ شــو
خـــو د مینــــې غـــم مــــې هغســــې پـــهٔ زړهٔ د ے

څـــهٔ کـــانې نـــهٔ وې چـــې وو ورســـره نـــهٔ شـــوې
خـــو پښـــتون قـــام مـــې لا هغســـې اودهٔ د ے

هـــر ســـاعت د بېلتانـــهٔ مـــېچن پـــرې ګرځـــي
دا وجـــود مـــې ځکـــه هســـې اوړهٔ رانجـــهٔ د ے

o

ګــړ ګــوزي ئــې وهلــې شوشــکېده د ســيند پــۀ غــاړه
زمــا نــه پــۀ هــېڅ جــوړ نــۀ شــوکېده د ســيند پــۀ غــاړه

خوشــحاله وه پــۀ ځــۀ لــۀ دغــې رازه خبــر نــۀ يــم
ځــۀ بــل شــانې د خيالــه تاوېــده د ســيند پــۀ غــاړه

زۀ وړم چپــو د لاس د راکولــو مــې ځــوک نــۀ وو
هغــه راتــه لــۀ ورايــه ژړېــده د ســيند پــۀ غــاړه

بــوډۍ چــې لېــونۍ د ســيند پــۀ مېــنځ کښــې اړولــې
راغلــې وه پــۀ مــا ســمه خولــه د ســيند پــۀ غــاړه

څو ځله ئې زړۀ جوړ کړو ولې خولۀ ئې جوړه نۀ شوه
زمــا نــه ســمندره شــرمېده د ســيند پــۀ غــاړه

○

چــل رالــه نــهٔ راځــي چــې هېــر دې کړمــه ځنګــه يــاره
زمـــا قاتـــل زمـــا مغـــرور زمـــا بـــې ننګـــه يـــاره

داسـې کـانې خـو پـهٔ يوسـف [۴] ورونـو هـم نـهٔ وې کـړې
ځنګـــه چـــې تـــا يـــم غورځـــولے لـــهٔ ګړنګـــه يـــاره

اوس مـــې پـــهٔ نـــورو ښائســـتونو ســـترګې نـــهٔ خـــوږېږي
چـــې تـــهٔ ليـــدلے مـــې تـــر ځـــو ئـــې غـــنم رنګـــه يـــاره

زړهٔ مـې پـهٔ زړهٔ کښـې نشـته سـاه مـې پـهٔ وجود کښـې نشـته
زمـــا توبـــه ده ســـتا د مـــړو ســـترګو لـــهٔ جنګـــه يـــاره

حُســـن دې نـــهٔ دے ســـمندر دے انـــدازه نـــهٔ لـــري
مينــه دې ســود نــهٔ شــي پــهٔ چــا يــه پــهٔ زړهٔ تنګــه يــاره

# ○

هغسې ژوند غواړي دوران لولکۍ نهٔ پېژني
پهٔ ګل غوړېږي سود او زيان لولکۍ نهٔ پېژني

زما خو اوس هم هر کتاب د لولکو نهٔ ډک دے
دا خلق اوس هم پهٔ ايمان لولکۍ نهٔ پېژني

هغوي مدام د ګل پهٔ غېږه کښې ژوندون کړے دے
زمکه خو زمکه ده اسمان لولکۍ نهٔ پېژني

حُسن لمبه لمبه شوخي دومره پهٔ زور او پهٔ شور
د ځانه ورکه شي بيا ځان لولکۍ نهٔ پېژني

کهٔ پهٔ رښتيا شي پهٔ رښتيا د ګل نه هم ښائسته ده
خو سمندره هغه شان لولکۍ نهٔ پېژني

ه

بنګـــړي دې شـــور نـــۀ کـــوي شـــړنګ نـــۀ کـــوي
ســـترګې دې هاغـــه دي خـــو جنـــګ نـــۀ کـــوي

چـــې ســـتا پـــۀ غـــاړه شـــو نـــو يـــو پـــۀ دوه شـــو
ګنـــــي خوشـــــبو دومـــــره لونـــــګ نـــــۀ کـــــوي

چـــې ســـتا نظـــر ځـــومره اثـــر کـــړي پـــۀ مـــا
دومـــره اثـــر خـــو پـــۀ چـــا بنـــګ نـــۀ کـــوي

زمـــا پـــۀ وينـــو بانـــدې لاس ســـرۀ کـــوي
وائـــې نکريـــزې داســـې رنـــګ نـــۀ کـــوي

د محبـــــت پـــــۀ تيلـــــو غـــــوړه وي تــــــل
د زړګـــــي اوســــپنه مــــې زنـــــګ نــــۀ کــــوي

د پښـــــتونخوا ســـــالو لمبــــــه لمبـــــه دے
پـــــۀ دې غريبــــه هېڅـــوک ننـــګ نــــۀ کــــوي

د چـــا د زلفـــو نــــه پـــرې ســـبورے اوشـــو
ســـــمندر هغســــې غورځنـــګ نـــۀ کـــوي

★★★

خپـــــل ورانــــوي پســــې د غـــــاړې امېـــــل
زمـــــا چــــې دوه دانـــې لونـــګ پکـــار شــــي

زۀ هــــــم پښــــــتون او مئــــــين زړۀ لرمـــــــه
ورکـــوؤم وينـــه چـــې ئـــې رنـــګ پکـــار شــــي

o

د محبت زمکې زما دي د اوبو لاندې
یار مې خوارۀ راګوري د ښو لاندې

شونډې ئې اوچې دي بانۀ ئې لا اوچ شوي نۀ دي
د اوښکو لارې ئې رڼې دي د لېمو لاندې

چې زړۀ ئې نۀ وو نو پۀ خولۀ ئې راته ولې نۀ وے
بیا ګلابونه هغې ولې کړۀ د پښو لاندې

داسې وړمې د ښائستونو راخورېږي پۀ ما
لکه لونګ چې ئې وي غوټه د کمخو لاندې

لاس ئې هم سرۀ دي او منګي ئې هم تک سرۀ پۀ سر دي
لیچې ئې بریښي سمندره د بنګړو لاندې

O

زهٔ ستا پهٔ شان دومره مئین هسې پهٔ ځان نهٔ یم
زهٔ لېونے یمه پهٔ کته پهٔ تاوان نهٔ یم

ستا نه لوګے شم ستا لهٔ درست پاړه چناره لوګے
کهٔ زهٔ تا نهٔ یادوم زهٔ به مسلمان نهٔ یم

کهٔ ستا دا خیال وي چې زهٔ مړ به شمه هېر به شم
مرګه راځه خو ګوره زهٔ دومره اسان نهٔ یم

دا چې ستا غبرګې غبرګې زلفې مې پهٔ زړهٔ پرتې دي
زهٔ پهٔ رښتیا یمه اشنا د اوچې خان نهٔ یم

زهٔ هم هغه یم تهٔ هم هاغه د ښائست ملوکه
پهٔ تا پوهېږم زهٔ دې هغسې جانان نهٔ یم

زهٔ سمندر یم همېشه ورمې شیندم د امن
چرته تېر شوے د بارودو پهٔ دوکان نهٔ یم

o

پــهٔ ســرو ګلونــو چــې پــهٔ نــاز او پــهٔ ادا خېــژي
هغــه بــه خامخــا زمــا پــهٔ زړهٔ رســا خېــژي

زلفــې ئــې تــورې دي چــې ګُــورې ورتــه ښــهٔ تــوريږي
شــونډې ئــې ســرې دي لــهٔ رخســاره ئــې رڼــا خېــژي

پــهٔ مــا ئــې خپلــه مينــه دومــره پيــرزو کــړې ده چــې
اوس چــې ئــې ســتايم نــود خــولې نــه مــې دعــا خېــژي

راځــه راځــه زمــا پــهٔ زړهٔ دغســې زړهٔ مــهٔ ســيزه
لاس بــه ســتا ســرهٔ وي خــو وږمــې بــه تــرې زمــا خېــژي

زهٔ چرتــه هــم چاتــه کويــان نــهٔ کــنم پوهــه يمــه
ډېــرې خبــرې د ســړي نــه پــهٔ دنيــا خېــژي

زما د خوار قسمت څۀ بل شان عجيبه قيصه ده
هغه مې وژني چې پۀ چا پسې مې ساه خېژي

ددې خبرې غم بۀ څنګه سمندره کېږي
دا پۀ سينه کښې چې مې هر وختې درزا خېژي

★★★

رښتيا مې خوښ وي پۀ رښتيا زما دروغ بدي شي
ماته نور مۀ وايه اشنا زما دروغ بدي شي

کۀ څوک قسم راکوي څوک رانه پوښتنه کوي
اول مې شر بدي شي بيا زما دروغ بدي شي

o

پــــهٔ ژونــد کښـــې دغــه ئـې يــو کــار کــړے دے
يــــار چـــې پـــهٔ مـــا د ګـــل ګـــذار کـــړے دے

مـــــا تهولــــــه ورځ تاتـــــــه نيـــــــولې لاره !
مـــا تهولــــه شـــپه ســـــتا انتظـــــار کـــــړے دے

شـــونډې ئـې ســرې دي لاس ئـې هـم ښـهٔ سـرهٔ دي
زمـــا پـــهٔ وينـــو ئــــې ســــنګار کــــړے دے

مــــا چـــې پـــهٔ چـــا بانـــدې شـــيندل ګلونــــه
هغــــــه پـــــهٔ مـــــا د تـــــورې وار کـــــړے دے

پـــهٔ غرونــــو ګرځمــــه بــــازار نــــهٔ مــــومم
خدايــــــه دا چـــــا راتــــــه ازار کــــــړے دے

٥

دا مــا چــې ځــا ئــے پــۀ ځــائے بــه کشــمالي راتلــولــول
پـــۀ دې خــو بـــه مـــا ځـــان تـــه ښـــاپيرې راتلــولـــول

زۀ بيـــا ثابتـــه ورځـــې پـــۀ کـــودرو ورپســـې ووم
مـــا بيـــا ثابتـــه شـــپه ســـتا مـــات بنګـــړي راتلــولـــول

ســتا قــد تــه د هــر چــا پــام وو چــې تــۀ راتلــې پــۀ لاره
مـــا ځکـــه پـــۀ تــول چــم کښـــې ســـپېلني راتلــولـــول

کـــۀ مـــا بـــه پـــۀ هنـــر لـــولکۍ ډ ېـــرې رانيـــولې
خـــو تـــا بـــه پـــۀ هنـــر اور ورکـــې راتلــولـــول

نـــن بيـــا د اتـــوار ورځ وه د نينزکـــې ئـــې وادۀ وو
نـــن بيـــا هســـې هغـــې لوښـــې لرګـــې راتلــولـــول

تـــا ډېـــر وو خپـــل بانـــۀ زماپـــۀ زړۀ راورولـــي
مـــا بيـــا تالـــه بانـــۀ د خپـــل زړګـــي راتولـــول

زۀ روغ وومـه خـو هسـې پـۀ ځـان نـۀ ووم پوهـه شـوے
هغـــــې راپســـــې هســـــې لېـــــوني راتولـــــول

د امـــن د قضـــا نخښـــې وي داســـې ســـمندره
يـــو کلـــي تـــه مغـــل او يوســـفزي راتولـــول

★★★

خـــوږه جانانـــه تـــا چـــې ځـــومره مالـــه زړۀ چـــۀلے
دومـــره قســـم دے چـــا لـــه غـــور لېـــوني هـــم نـــۀ کـــوي

پـــۀ ځـومره وخـت کښـې چـې تـۀ زر زمـا د خـوا نـه لاړې
پـــۀ دومـــره وخـــت کښـــې خـــو وزر لېـــوني هـــم نـــۀ کـــوي

o

مينــــه مـــنم اور دے خـــو کـــار شـــوے دے
زړۀ رانـــه ســم خـــور دے خـــو کـــار شـــوے دے

اوس ئـــې پـــۀ بنګـــړو بانـــدې لاس بـــر شـــو خـــو
اوس خاموشـــه شـــور دے خـــو کـــار شـــوے دے

خدايـــــه دا زمـــــا هاغـــــه بـــــې غمـــــه زړۀ
اوس هســـې نســـکور دے خـــو کـــار شـــوے دے

ســـــتا نـــــۀ ئـــــې زړۀ تـــــور دے الميـــــه داده
ســـتا د ســـترګو تـــور دے خـــو کـــار شـــوے دے

اوس مـــې پکښـــې هغســـې زړۀ نـــۀ لګـــي
هاغـــه کلـــے کـــور دے خـــو کـــار شـــوے دے

ځـــان مـــې کـــړو د عشـــق پـــۀ ســـمندر لاهـــو
درد دے هـــم تکـــور دے خـــو کـــار شـــوے دے

○

پــهٔ زړهٔ وربــرې مــې ســتا هاغــه مســکيتوب نيمګــړے
خــوب رالــه نـهٔ راځـي ليـدلے مـې د ے خــوب نيمګــړے

دومــــره اثــــر د لــــري والــــي زمــــونږ بــــس د ے کنــــه
زمــا ځــواني نيمګــړې ســتا د ے پېغلتــوب نيمګــړے

هغــهٔ بــه ځــهٔ د ژونــد يــو کــار وي رســولے ســرته
چــا تــه چــې پــاتې وي تــر عمــره مئينتــوب نيمګــړے

ښنګــه بــه يــاره ســتا يــاري ســر تــه اونــهٔ رســوؤم
چرتــه مــې هــم پرېښــود ے نـهٔ د ے لېونتــوب نيمګــړے

د خاموشــۍ چــې ښنګــه ښــکاري ســمندر نيمګــړے
د محبــت نــه بــه ښنــګ نــهٔ وي ســړيتوب نيمګــړے

o

پـهٔ شـر راپـاخي پـهٔ شـر سـتړے شـي پـهٔ شـر اودهٔ شـي
سـتا لېـونے يـاد مـې رسـا د زړهٔ پـهٔ سـر اودهٔ شـي

زهٔ ټولـه شـپه سـپينې سـپوږمۍ او سـتا تصـوير تـه ګـورم
دا خلـق ځـومره بختـور دي ځـومره زر اودهٔ شـي

لکـه شـبنم ژونـد پـهٔ هنـر د ګـل پـهٔ غېـږ کښې کـوي
لکـه شـبنم د ګـل پـهٔ غېـږ کښې پـهٔ هنـر اودهٔ شـي

پـهٔ دې وطـن کښې هـره شـپه پـهٔ ټپولـو بانـدې
غريـب ماشـوم د مـور پـهٔ غېـږه کښې نهـر اودهٔ شـي

چې مُـلا خـوب ويني نو دهٔ لـهٔ ټکے خـوب نـهٔ ورځـي
چې مُـلا بانـګ وائـي سـحر نـو سـمندر اودهٔ شـي

○

د سترګو نه ئې وتے نۀ وي زر راپورې نخښلي
خمار خمار لمبه لمبه نظر راپورې نخښلي

حالات کۀ رانه زر ځله دا سر د تنه پرې کړي
خو بیا هم د پښتون فطرت دے سر راپورې نخښلي

چې ستا زلفې مې هسې پۀ خپل ځان وې خورې کړې
چې ځم چرته اوس هسې مشک عنبر راپورې نخښلي

د چا رنګ پۀ ځان نۀ پربږدم د چا پۀ رنګې نۀ یم
خو ستا د لېونې حُسن اثر راپورې نخښلي

پۀ لاس کښې د ګلونو ګجرې نۀ ورمه پۀ لاره
بیا هغه لېونے شان سمندر راپورې نخښلي

خدائے خبر چې پۀ کوم تور کومه ګناه کښې
خلق مري زما پۀ ګل ګل پښتونخوا کښې

مونږ تاريخ لرو کلتور لرو هم ژبه
څکه نۀ پرېږدي هېڅوک مونږ پۀ حيا کښې

د سپرلي د شپې باران مې پۀ زړۀ اوري
ما ليدلې وه يو څل څوک پۀ برېښنا کښې

پۀ غلۀ غلۀ چې غلي غلي راته ګوري
تجربه ده د هغې څومره پۀ غلا کښې

خوشبوياني دي پۀ هر لوري خورېږي
نوره مۀ ګرځه ګل رنګې پۀ هوا کښې

o

پـهٔ خـود کښـې نـهٔ ده خـو بيـا هـم ځـومره پـهٔ خيـال ځـانګي
خدايـــه هغـــه لېـــونۍ بيـــا پـــهٔ هغـــه تـــال ځـــانګي

هغـــه د وران کلـــي تپـــهٔ رايـــادوي ســـړي تـــه
چـې پـهٔ پيکـه اختـر او سـوړ بـڼ کښـې سنهبال ځـانګي

د پښـــتنو بچـــو نـــه ګـــوتې فرښـــتو ويســـتې دي
پـــهٔ خپلـــو پـــړو خپلـــو بيـــرو کښـــې پـــهٔ ســـوال ځـــانګي

هېـر بـه مـې نـهٔ شـي مـړهٔ کاتـهٔ او زنګېـدلې ځـوانۍ
چـې پـهٔ دې بـڼ کښـې شـوخې پېغلـې کـال پـهٔ کـال ځـانګي

مينـــه چـــې نـــهٔ وي نـــو آدم[۴] وي پـــهٔ جنـــت کښـــې خفـــه
مينـــه چـــې وي نـــو ابـــراهيم[۴] اور کښـــې خوشـــحال ځـــانګي

O

مونږه پۀ ډېر ډېر څۀ تر مرګه یو بل نۀ پرېښودو
خو نن مو خدایه یو بل څومره پۀ لږ څۀ پرېښودو

هغې کۀ هر څو قسم اوخوړو د نۀ راتللو
خو هغې داغ د محبت زما پۀ زړۀ پرېښودو

حال ته مې نۀ کاتۀ ماضي مې پۀ زړۀ اوورېدو
بیا مې جانان ته یو ګلاب پۀ دیوالۀ پرېښودو

دغه غرور وو کۀ د مینې د تهمت لۀ ویرې
ښار ته راغلے لېونے ئې بیا پۀ غرۀ پرېښودو

ډېر زیات مې خوښ وو سمندرخو اوس مې ډېر بدي شي
هغې همزولو ته وې بس دے ما هغۀ پرېښودو

o

زړۀ مې پۀ زړۀ کښې نۀ وي زړۀ مې لۀ ځيګره لوئېږي
ستا لوړ قامت ته مې پګړۍ هسې د سره لوئېږي

ما پکښې دا ليدۀ خو دا راته خند نۀ اودريدو
مينه چې څوک کوي نو خود به لۀ کمره لوئېږي

پۀ ځان مئينې پۀ ما نۀ خو پۀ ځان رحم اوکړه
چې ځان ته غره وي د خلقو لۀ نظر لوئېږي

د خوشبويانو قافلې پرې يره زړې راځي
د زړۀ پۀ ژۍ مې تندرونه ښۀ پۀ نره لوئېږي

زما او ستا چې فاصلې دي سېوا شوې ياره
اوس مې د زړۀ پۀ غرونو واؤره زوراوره لوئېږي

خبر کۀ د زلفو پۀ سيلۍ مې زړګي درز نعرې کړو
پۀ دې خو لوړ لوړ دېوالونه سمندره لوئېږي

O

بې ستا لهٔ یاده پهٔ سینه کښې زما څوک نشته
پهٔ دې پرکاله توره شپه کښې زما څوک نشته

اوس چې قدم اخلم تیندک خورم د ارمان پهٔ څلي
ما به وئیل پهٔ ادیره کښې زما څوک نشته

هغسې سر ښکاره کوؤم پناه کوؤمه یاره
خو مودې اوشوې پهٔ کوڅه کښې زما څوک نشته

خلق بلها دي خو خپل ځان محسوسوؤم یواځې
پهٔ دومره لویه ښاریه کښې زما څوک نشته

د خپل منزل پهٔ لور یواځې سمندر روان یم
د ژوند پهٔ یوه ډله پره کښې زما څوک نشته

o

غشي تـرې ډېر وتـي خـو دا غشـے تـرې سـم وتـے دے
زمـــا د هاغـــه زوراور زړګـــي نـــه دم وتـــے دے

دا خـــو يـــو زۀ يـــم چـــې غمونـــه چڼوؤمـــه ناســـت يـــم
نـور پـۀ دې ښـار کښـې د هـر چـا د زړۀ نـه غـم وتـے دے

ښـکلې بـه وي خـو محبت بـه پکښـې ځـوک نـۀ کـوي
پـــۀ کومـــه ورځ چـــې لـــۀ جنتـــه دي ادم وتـــے دے

منګـولې مـروړي خـو بيـا هـېڅ ورلـه پـۀ لاس نـۀ ورځـي
د چـــا د لاس نـــه چـــې کتـــاب وتـــے قلـــم وتـــے دے

سـتا پـۀ ديـدن پسـې ډېـر زيـات سـتا سـمندر خفـه دے
ډېـر زړۀ ئـې کيـږي خـو د خـولې نـه ئـې قسـم وتـے دے

بغېر لۀ تانه زۀ به څۀ وايمه بل چاته
دلته مې څوک دي چې به ښايمه ګوګل چاته

زما زړۀ درز نعرې کړو سر راباندې اوګرځېدو
يه لېونۍ وايه باڼۀ دې رپول چاته

خپلو لاسونو ماتولو ته مې زړۀ شوے وو
چې پۀ کوم وخت کښې تا لاسونه ورکول چاته

هغه به خامخا باران پۀ تا د کانو کوي
پۀ هره لاره چې ازغي به دې کرل چاته

هغه مې اوس د نوم ورکې پۀ ارمان خوب نۀ کوي
دا چې ليتکي به هره شپه مې بلؤل چاته

پۀ داسې وخت کښې چې خپل ځان هسې پردے پردے وي
پۀ داسې وخت کښې بـه څوک څۀ اووائي خپل چاتـه

خدائے زده هغه به درخانئ لۀ څۀ ځواب ورکوي
د ګلـو څانګـه ده خـو نـۀ ورکـوي ګـل چاتـه

دا دے خبـر شـوم چې هغـۀ راتـه قـران اوخـوړو
چې هـر کلـي پـۀ دېوالونـو مـې ليکـل چاتـه

زۀ د هغـه هـم لـۀ نظـره خدايـه پرېوتمـه
چې هـره شـپه مـې سـپېلني لـوګے کـول چاتـه

اوس سـمندر شـوے چې غـزل د زړۀ پـۀ وينـو ليکـې
هغـې غزالـې دي هـم نـن اووې غـزل چاتـه

o

پـهٔ یـو وخـت ژاړو هـم خانـدو ، کـهٔ ګـلاب د ے او کـهٔ زهٔ یـم
سـینه ډېره خولـهٔ ګویانـه ، کـهٔ ربـاب د ے او کـهٔ زهٔ یـم

نـهٔ پرېـږدو دواړه ملګـري ، د ژونـدون پـهٔ لویـه شـپه کښـې
مـونږه ځـومره وفـادار یُـو ، کـهٔ کتـاب د ے او کـهٔ زهٔ یـم

هغـهٔ ټـول کلے قبضـه کـړو ، زهٔ د خپـل یـار دعـوه ګیـر یـم
پـهٔ دې حقلـه دواړه یـو یُـو ، کـهٔ نـواب د ے او کـهٔ زهٔ یـم

زهٔ د امـن پیـامبر یـم ، هغـه زېـر ے د جنـت د ے
د یـو بلـه وو ورک شـوي ، کـهٔ ثـواب د ے او کـهٔ زهٔ یـم

سـمندر یمـه پـهٔ خپلـه ، هغـه سـاز د ے لـهٔ مسـتۍ نـه
طبیعـت زمـونږه یـو د ے ، کـهٔ شـباب د ے او کـهٔ زهٔ یـم

O

دا چې راپورته شوې ددې مسئلو حل پکار دے
د خولې وخت تلے دے په دې وخت کښې عمل پکار دے

د ګلابونو ورمې ډېرې دي خو دومره ده چې
په دې ازغنه لاره لېږ شانې مزل پکار دے

ګټل به غواړي چې په هر قيمت بقا وي د ژوند
ددې خبرې غم د هر څۀ نه اول پکار دے

په ځينې کار کښې اندېښنه ښۀ وي هم صبر ښۀ وي
په ځينې کار باندې تادي پکار توکل پکار دے

دا چې څوک خولۀ سپړي او مرګ مرګ يادوي په مخه
دغې سړي لۀ سمندره خو اجل پکار دے

O

ګلرنګــه او نــوخېزه د ے لالــے زمــا پــۀ خــوا کښــې
خـــوربږي د هـــوا ســـره رېـــد ے زمـــا پـــۀ خـــوا کښـــې

زمـا ګونـه پـۀ يـو ټـک کښـې بيخـي شـوه تکـه زيـړه
چـې سـتا نـه کلـه اولوئېـدو مـنګے زمـا پـۀ خـوا کښـې

زمـــا دپـــاره دا خبـــره بـــس ده چـــې دا وائـــي
زۀ مـړه يمـه ژونـدی، شـم چـې وي د ےزماپـۀ خواکښـې

د زړۀ دشـته پـۀ يـو ټـک کښـې مـې هغسـې بـاغ بـاغ شـوه
جانـان وو کـۀ نـه تېـر شـو پسـرلے زمـا پـۀ خـوا کښـې

خبــــرې ســــمندره ســــمې نــــۀ کــــوي د زړۀ نــــه
پـۀ عمرکښـې تـرې خـۀ مـات شـوبنګړے زماپـۀ خواکښـې

O

ما نا خبره د خپل زړۀ پۀ ارمان نۀ پوهول
زۀ پۀ ځان پوهه ووم خو ما څوک پۀ ځان نۀ پوهول

ما زړۀ بېللے وو خو زۀ پۀ خولۀ خاموشه وومه
زۀ تاواني ووم خو ما څوک پۀ تاوان نۀ پوهول

ما تاته څکه وے چې زلفې پۀ ما مۀ خوروه
تا راته ډېر ډېر وے خو ما رقيبان نۀ پوهول

يا زۀ خبر يمه د خپل زړۀ نه يا تۀ خبر ئې
بيا دې هم خپل تاؤ تاؤ بانۀ قاتلان نۀ پوهول

ډېره موده لکه خاموشه سمندر ووم زۀ
اوس پۀ ما پوهه شول کۀ ډېر مې خوبان نۀ پوهول

o

ما تصور هغسې ستا د جمال پرېښې نۀ دے
ورکه جانانه ما دې ذکر د خال پرېښې نۀ دے

مینه شیندمه پۀ هر لور د مینې کر کوؤمه
ما لا تر اوسه پۀ خپل کور کښې د ښوال پرېښې نۀ دے

داسې به څوک وي چې هیڅ در پۀ در کړے نۀ وي
خلقو پۀ دې ښار کښې مئین پۀ یو حال پرېښې نۀ دے

زما پۀ زړۀ کښې جوړې شوي دي بلها بُت کدې
زما پاګل ذهین پۀ هر څۀ کښې سوال پرېښې نۀ دے

زۀ کۀ هر څو د وخت پۀ نبض باندې پوهه یمه
خو ما تر اوسه خپل خوئي بوئي کلیوال پرېښې نۀ دے

مینه ګناه ګڼي د شر سر خېله مینه ګڼي
تاریخ ګواه دے چا منصور او بلال پرېښے نۀ دے

سودا کوؤم خو د سرونو سودا نۀ کوؤمه
ما پۀ خپل سر څوک سوداګر او دلال پرېښے نۀ دے

تا څومره زر خپل سمندر هېر کړو بې ننګه یاره
خیال دې کوي هغه دې هغسې خیال پرېښے نۀ دے

✶✶✶

ستا کور شو زما زړۀ چې کړې کور پسې راتلې
بې شوره وې کۀ نه هسې پۀ شور پسې راتلې

ستا غم د مېلمستیا به اوس کوؤم د زړۀ پۀ وینو
د یار غمه چې تۀ پۀ ما غمخور پسې راتلې

o

مونږ هسي نهٔ ژړله خپله بې وسي پهٔ لاره
لاس مو ورکړي وو خو راغله جدائي پهٔ لاره

اول ئې ښهٔ پهٔ مسلکونو باندې خوا يخه کړه
بيا پهٔ ژړا شوه ماتوله ئې بنګړي پهٔ لاره

اوس چې پهٔ هغه لاره ځم سم ځنګېدلے ځمه
ستا نه بغېر رانه تلهٔ نهٔ کيږي بېخي پهٔ لاره

يه لېونو دومره پهٔ يو بل پورې زړهٔ مهٔ تړئ
مونږ نهٔ منل مونږ ته به ډېر ورے يو سړي پهٔ لاره

اوس مې زړهٔ مات دے اوس مې سترګې پهٔ چانهٔ خوږېږي
اوس راته ډېر اوړي را اوړي ښاپيري پهٔ لاره

يـا ســتا خيــال نــۀ وو ســتا د ســر نــه لوپټــه خوئيــدلې
يــا چــا شــيندلي چرتــه ښــۀ ډېــر کشــمالي پــۀ لاره

څــۀ زۀ پاګــل يــم او څــۀ ښــکلې پــاڼې پــاڼې ګرځــي
د کــوم قاتــل نــه ســمندر بــه ځــان ســاتي پــۀ لاره

★★★

ولــي نــۀ يــم خــو روان پــۀ نېغــه لار يــم
زۀ ددې دور خــــدائي خــــدمتګار يــــم

د اخــون غونــدې پــۀ بــل ورپســې نــۀ يــم
بايزيــد يمــه پــۀ خپلــه يــو کــردار يــم

O

چې غلا کوي د زړونو دغه غلې جينۍ څوک ده ؟
دا تندر او قيامت ښاغلې جينۍ څوک ده ؟

دا سترګې چې ئې ډکې دي د سپينو رڼو اوښکو
دا دنګه لکه سروه غريو نيولې جينۍ څوک ده ؟

لونګ ئې په پليڅکې پورې غوټه دي کۀ هسې
لۀ ځانه دغه ورکه نازولې جينۍ څوک ده ؟

يواځې ده نن بيا د کشمالو پۀ ټل کښې ناسته
دا سترې پانې خوبولې جينۍ څوک ده ؟

دا ګورې ګورې زلفې چې پۀ مخ ئې راخورې دي
دا ځان ته چې ئې خيال نۀ دے سپېڅلې جينۍ څوک ده؟

خاموشه ده نن بيا د سمندر پۀ تماشه ده
د پنجو پۀ سر غاړې لۀ راغلې جينۍ څوک ده ؟

o

د ګـــودر نـــه چـــې مـــنګـې پـــۀ نـــرۍ مـــلا وړي
زمـــا زړۀ بـــه پـــۀ لېمـــو کښـــې خامخـــا وړي

زلفـــې مـــۀ خـــوروه کلـــې بـــه خبـــر شـــي
خوشـــبوئي زمـــا لـــۀ غېـــږې دې هـــوا وړي

هـــره پېغلـــه ئـــې د يـــو بلـــه ښائســـته ده
چـې ډولـۍ بـه دغـه جـنج ګـورے د چـا وړي

شـــپه ئـــې زلفـــو تـــه د شـــپې هســـې پســـخېږي
لـــۀ رخســـاره ئـــې ســـپوږمۍ ځانلـــه رڼـــا وړي

خـــوب راځـــي خـــو ســـترګې نـــۀ شـــم پټـــولے
بيـا خـوب ويـنم وايـم مـرګ لـۀ مـې څـوک بيـا وړي

o

پــهٔ چــا ئــې پــروا نشـــته ځــي راځــي پــهٔ کشـــمالو کنبــې
خنـــدېږي دوه خـــود ســـره لېـــوني پـــهٔ کشـــمالو کنبـــې

مـــا خـــوب لیـــدو مـــا وې زهٔ بیـــا د زړهٔ لـــهٔ درده مـــړ یـــم
مـــا وې زمـــا نـــه تـــاؤ دي ښـــاپیري پـــهٔ کشـــمالو کنبـــې

مــــا ځــــهٔ یــــوه غنچــــه د کشــــمالو اوشــــو کوله
هغــې لــهٔ قهــره مــات کــړهٔ خپــل بنګــړي پــهٔ کشــمالو کنبــې

وږمــې ئــې پــهٔ هــر لــور د پســرلي پــهٔ رنــګ خــورې شــوې
دا ځــوک ده لمــدې زلفــې ځنــد وهــي پــهٔ کشــمالو کنبــې

هغـــه اوس خـــورې زلفـــې پـــهٔ نـــاز ګرځـــي ســـمندره
هغــې ځــان تــه لــوګې کــړهٔ ســپېلني پــهٔ کشــمالو کنبــې

o

ستاد بڼو لښکرې نۀ وي خو سنګر ته راځم
اوس موده پس چرته پۀ پښه پښور ته راځم

تۀ خو لا تۀ ئې هغه مات بنګړي دې هم مټره شو
بیا هم د خپل ارمان خالي ګودر ته راځم

ستا جدایۍ د زمکې زیړې ته کوز کړے یمه
ځواني به تلې وي چې زۀ د زمکې سر ته راځم

ستا د لیدو نه بغیر هره شپه هم داسې ځمه
هر مازیګر هغسې زۀ د کلي سر ته راځم

ځان ته چې غره ده هغې پۀ غرونو سر کړمه زۀ
ځان ته چې غره ده هغې لۀ سمندر ته راځم